
ساپوهنه
Psychology
کبیر ستوری
Kabir Stori
د هوښیارتیا تله
Da Hokhyartia tala
(Intelligence Test)
خپرونکی: د پښتونخوا د پوهنې دېره، پېښور
Da Pakhtoonkhwa da pohane Dera

کبير ستوری

Kabir Stori


# د هوښيار تياتله

# Da Hokhyartia Tala (Intelligence Test)

## د کتاب پيژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د هوښيار تيا تله |
| ليکوال | ډاکتر کبير ستوری |
| خپرونکی | د پښتونخوا د پوهنې دېره، پېښور، پښتونخوا |
| چاپ | د ختيځ د بيا رغونې اداره ( کور ) پېښور، پښتونخوا |
| مهتمم | ډاکتر محمد فريد بزګر |
| کمپوز | نعمت الله رسولي، د کور د خپرونو څانګه |
| د پشتې ډيزاين | قدرت الله ملکزی |
| شمير | ۲۰۰۰ ټوکه |
| نېټه | جولای ۲۰۰۰ |

د انټرنيټ په مخ

کمپوز : نسيم خان ستوری

ترتيب : ايمل خان ستوری

# ټرون

د پښتنې ټولنې د ځوان کول د هوښيارتيا پانګې د برخمن، د پېښوريونيورسټۍ د اسلاميه کالج لکچرر ښاغلي اباسين يوسفزي په نوم چې، پښتو ژبې، پښتني کو لتور او پښتني ټولنې ته ئې ستر خدمتونه کړي دي.


## ډاکتر کبير ستوری

Dr. Kabir Stori
Kiebitzweg 12
50389 Wesseling
Germany (Deutschland)
www.kabirstori.com
E-Mail: stori@kabirstori.com




**ښاغلی ډاکتر راجولي شاه خټک چې ددې کتاب سريزه ئې ليکلی ده او**
**ښاغلی اباسين يوسفزی چې دا کتاب ورته ډالۍ شوی دی**

# سرلیکونه


| | |
|---|---|
| سریزه | د هوښیارتیا د تلې لیک دود |
| د هوښیارتیا تله | هوښارتیا |
| د هوښیارتیا پېژند | د هوښیارتیا جوړښت |
| د شپیرمان نظریه | نظریه د ترستن |
| د انګلیسي ښوونځي نظریه | مایلي نظریه |
| د پیچلو چاروو د سرته رسولو توان | د نرمښت توان |
| دراغونډولو توان | د اوختلو توان |
| د هوښیارتیا د ګیل فورډ نظریه | د عمر د پوخوالي ګڼنه |
| د لوړ استعداد ګڼنه | پیداینښتي او زده شوي هوښیارتیا |
| د غبرګونو د هوښیارتیا څېړنې | په یو شانته چاپېریال کې د لوي شوو ماشومانو د هوښیارتیا څېړنې |
| د کولونو ( نسلونو ) د هوښیارتیا توپیرونه | د هوښیار تیا تلی او تلنه |
| د هوښیارتیا تول | د هوښیارتیا توله ای کیو ( IQ ) |
| بنسټي ارزښتونه یا نورم | اوم ارزښت |
| دهوښیارتیا تلې | د تلې د غوره والي نښې |
| سموالی یا د باور وړتوب | د اعتبار وړ توب |
| ذهني ناپیلتوب | د ژبې پورې تړلې د هوښیارتیا تلې |

| خپله څېړنه | لاره |
| --- | --- |
| پا يلې (نتېجې) | د پايلو روښانونه |
| د هوښيارتيا د اينې د کارونې لاربنود | لومړۍ ببلګه |
| دويمه ببلګه | دريمه ببلګه |
| څلورمه ببلګه | پنځمه ببلګه |
| شپږمه ببلګه | د هوښيارتيا آينه |
| لومړۍ ببلګه | دويمه ببلګه |
| دريمه ببلګه | څلورمه ببلګه |
| پنځمه ببلګه | شپږمه ببلګه |
| پوښتنې | د ځوابونو پاڼه |
| د سمو ځوابونو پاڼه | د تلې د پوښتنو د سمو ځوابونو د کيلي ببلګه |
| د بنسټي ارزښتونو يا نورمونو پاڼه | د هوښيارتيا تولې پاڼه |
| د هوښيارتيا ټولګې | خوښنه او مننه |
| اخستونځۍ | |

# سریزه

ډاکتر کبیر ستوری سوچه پښتون په پښتو او پښتنو مین سړی دی. د پښتونولۍ ژور او شدید احساس لري د خپل اولس د ودې لپاره هر وسیله پکاروي د خپل قام د سرلوړۍ او د سیالۍ د جوګه کولو پیاوړی او ښاغلی ارمان په زړه کې لري ددغه ارمان په تقاضا خپل احساس کله په شعر کې ښکاره کوي کله د ثقافتي پروګرامونو په ترڅ کې خپل قامي شناخت برڅېره کوي او هم په سیاسي توګه د خپلې نظریې د خورون تابیاګانی کوي. دارمان ئې د یو سوچه پښتون په څېر د خپل ایمان برخه ګرځولې ده. د سپېڅلې عقیدې سره ژوند تیروي، د ځان ځانۍ او د خپل ذات د بقا د خود غرضۍ په دې دور کې د ستوري ذات یقیناً چې د پښتانه تهذیب په آسمان د قطب ستوري حیثت لري! د « هوښیارتیا تله» په موضوع دا کتاب د کبیر ستوری له اړخه پښتو ژبې او علمي پانګې لپاره یو لوی سوغات دی، او د خپل نوعیت ځانګړې ډالۍ ده. په دې چې پښتو کې په سائنسي موضوعاتو کتابونه د نشت برابر دي . او له دغه سببه پښتو تر اوسه سائنسي ژبه نه ده او نه په دې ژبه کې د سائنسي او سماجي علومو د تعلیم څه بندو بست شته. د سائنسي اصطلاحاتو کمی ډیر په شدت محسوسیږي. ولی چې نن سبا هم د سائنس او د سائنس د تعلیم د فروغ له وجهې او هم د بهرني ثقافتونو د یلغار له مخه د پښتو اصلیت په خطره کې پریوتی دی. که چیرې پښتانه دې صورت حال ته په سنجیده نظر پام ونکړي نو پښتو به هم خپله لغتي پانګه بایلي. په ژبه او قام مین داسې ښاغلي د ډیرو ستائلو وړ دي. څوک چې د خپل علم، پوهې اظهار په پښتو کې کوي یو اعلی مقصد خو دا دی چې پښتانه د نور علومو سره بلد شي .

او بله ګټه پکې دا ده چې په نا محسوسه طريقې به سائنسي اصطلاحات پښتو ته راځي او چې داسې ضروري اصطلاحات په پښتو کې عام شي نو د هيځ يو علم د بيانولو ګراني به نه پيښيږی او نه به پښتانه د سائنسي علومو له پاره د نورو پردو ژبو محتاجه کيږي د « هوښيارتيا تله » شايد په دغه غرض هم په پښتو کې ليکلی شوی وی چې (Intelligence) يا د (IQ Test) لپاره په پښتو کې داسې پيمانې يا معيار نشته چې د پښتون پوهه يا هوښيارتيا ترې په صحيح ډول معلومه شي. که څوک د پښتانه (Intelligence) يا (IQ) ناپول غواړي او دنن دور د (Test) له پاره وضع کړې اصطلاحات په بله ژبه له هغه پوښتي نو دا (Test) به نيګړی وي. که څوک (IQ) معلومول غواړي هم نو په زړه پورې نتيجې تر هغې نشي تر لاسه کيدای تر څو چې د چا نفسياتي ماهر په پوښتنو ( سوالونو) پښتون پوره پوه شوی نه وي او چې پر سوال پوی نه شي نو په جواب به څوک پوره څنګه پوی شي. او که په دې پښتنه معاشره کې چيرې څوک چا ته د هغه د هوښيارتيا په بنياد د څه ذمه واری ورپه غاړه کولو اراده لري نو دا به يو نيمګړی او ناپوره کار وي. که هر څو د « هوښيارتيا تله » د هلکانو او ځوانانو لپاره ډيره ضروري وي د هغوی د تعليم د بندوبست لپاره دا تله پکار ده. او څوک چې څومره پوهيږي يا قدرت چا ته څومره صلاحيت ورکړی دی د هغې په بنياد دې هغه د اعلی علومو د تحصيل لپاره منتخب کړی شي. خو دا به پښتو کې هله ممکن وي چې د پښتانه د هوښيارتيا پوره تول او جاج واخستی شي او څرګنده ده چې تر څو داسې تله نه وي چې د پښتون صلاحيت او پوهه پرې وتلل شي نو په پوره ډول دغه جاج اخستل ګران دي.

هوښيارتيا يا (Intelligence) ډير تعريفونه لري د رشتياؤ تر مينځه د تعلق د ليدلو او پيژندلو صلاحيت او قدرت يا د تجربې نه د فائدې او ګټې تر لاسه کولو صلاحيت هوښيارتيا ګڼلی شي.

ویلی شي چې د (Intelligence Test) نظریه له ټولو وړاندی یو فرانسوي ساپوه یا نفسیات دان بائنټ ( Binet) وړاندی کړی ده بائنټ ته د فرانس حکومت د یوی داسې تلې یا (Test) د ایجادولو کار سپارلی وو. چې پری د حکومتي سکولونو لپاره د هوښیارو هلکانو انتخاب وکړی شي. او په کم پوهه هلکانو بې ځایه حکومتي پیسی خرڅ نشي. یو داسې معیار قایم کړی شي چې د تعلیم حاصلولو په لړ کې د علم د تحصیل صلاحیت لرونکي مخې ته راشي او عام هلکان دغه ځای ونه نیسي.

بائنټ د دغه غرض لپاره د عملي سوالونه یو اوږد فهرست تیار کړو او د عمر په یو خاص حد کې د هلکانو اکثریت چې د دغه سوالونو جواب یا حل اوباسي ددې کار طریقه داسې وه چې د لسو کالو عمر دهکانو یو ګروپ یا ډلې به زیات سوالونه حل کړه بل به د دولسو کالو د عمر ملکانو ډله وه او داسې په مخه به د زیات عمر ځلمې راتلل که چیرې د دیارلسو کالو هلک به د لسو کالو د هلک لپاره تیار کړی سوال په صحیح توګه حل کړو نو د هغه ذهني عمر به د لسو کالو ټاکلی شو او د هغه (Intelligence Quotient) به 10/13x100 اندازه ۷۷ فیصده ګڼلی شو. یا دا چې د هغه هوښیارتیا به د نارمل یا عام هلک په مقابل کې ۷۷ فیصده وه نن د دغه هوښیارتیا د ناپ له پاره ډیرې نوې او سودمنې طریقې وضع کړی شوې او باید پښتانه هم دغه علم زده کړي او هم ددغه علم په ذریعه د خپلو ځلمو د هوښیارتیا تناسب معلوم کړي.

د ژوند او تهذیب د ودې او ترقۍ لپاره دا ډیره ضروري ده چې اهل خلک معلوم کړی شي. د قام د تعمیر په لړ کې ترې کار واخستی شی. ډاکتر کبیر ستوری د شاعر او ادیب نه سیوا د نفسیاتو ماهر یا ساپوه هم دی. هغه ددې ضرورت احساس د خپل علم په رڼا کې هم کړی دی. او د خپل اولس په هوښیارتیا ویاړي هم . ولی دا سوال هم مخې ته وه چې په پښتنو کې د دغه مقصد له پاره میڅ تله هیڅ قاعده موجوده نه وه. ستوری چې پخپله کوم علم تحصیل کړی دی. د یو ریښتوني پښتون په حیث هغه دا ګټه په خپل اولس پیرزو کوي.

او د خپلو ګړو دفایدې په خاطر هم او خپل اولس د نوي علمونو سره بلدول هم د هغه مقصد دی هم ئې مرام دی. خدای تعالی دې وکړي چې پښتانه د دې کتاب په نغوته نوي علمونو ته پام وګرځوي. او د نن دور د قامونو د ترقۍ په رفتار کې په خپلو پښو هم ودریدو چل زده کړي او هم د مثبت رفتار جوګه شي چې د دنیا د قامونو د سیالۍ اهل شي.

**ډاکتر راجولي شاه خټک**
**د پښتو اکاډمۍ مشر**
**اپریل ۲۰۰۰ ، پېښور**

# د هوښیارتیا د تلې لیک دود

ښه پوهنیزه لیکنه هغه ده چې د خپلې نظریې او پردې نظریې توپیر پکې شوی وي. دا توپیر د پوهنیز لیک دود په واسطه کیږي. زمونږ ژبه پښتو لا د پوهنیزو لیکنو د پیل په پړاو کې ده او کوم عمومي منل شوی پوهنیز لیک دود منځ ته نه دی راغلی نو له دې کبله ددې کتاب په لیکو کې د لویدیز د پوهنیز لیک دود څخه کار اخستل شویدی. د لویدیز د پوهنیز لیک دود سره سم تړلې ژباړه چې د بل د نظریې ټکي په ټکي راخستنه ده ددې نښو « » په مینځ کې لیکل شوې او په پای کې په دې لیندۍ ( ) د شمیر په واسطه په ګوته شویده چې په اخستونځو کې په کتاب حواله ورکوي ازاده ژباړه چې په خپلو تورو سره د پردۍ د نظریې څرګندونه ده، یوازې په دې لیندۍ کې په ګوته شویده. سربیره پر دې د پوهنیزو لیکنو دې دود ته پاملرنه شویده چې د بلې ژبې د لغت استعمال یوازې په هغه وخت کې اجازه لري چې په هغه ژبه کې چې لیکنه پرې کیږي موجود نه وي. په دې برخه کې ما هڅه کړې چې د یوې خوا سوچه پښتو لغاتونه استعمال کړم او له بلې خوا د اولسی ژبې څخه ډېر وړاندې لاړ نه شم لدې کبله د پښتو د ځینو لفظونو، استلاګانو سره په لیندۍ کې د نورو ژبو لفظونه او استلاکاني په هماغه ژبه (که په جرمني او که په انګلیسی ؤ ) لیکل شوي دي. د کومې څخه چې ما استفاده کړی، سربیره پر دې د لیکوالو نومونه هم ددې له پاره چې غلط تلفظ نه شي په هماغه ژبه په لیندیو کې لیکل شویدي په کومه ژبه چې ؤ.

# د هوښیارتیا تله

(Intelligence–Test)

د هوښیارتیا د تلې په نوم کې دا مطلب هم پروت دی چې هوښیارتیا اندازه او تلل کیدی شي خو مخکې لدې چې په دې هلکه رڼا واچوو خپله هوښیارتیا ته ځلغنده کتنه کوو.

# هوښيارتيا

(Intelligence)

هوښيارتيا د انساني ټولنو په وده او پرمختګ کې کره رول لوبوي او په هره ټولنه کې ورته په درنه سترګه کتل کيږي . د پښتو دا متل چې ' له کم عقل دوست نه هوښيار دښمن ښه دی ' مونږ ته په پښتني ټولنه کې د هوښيارتيا ارزښت را په ګوته کوي هوښيارتيا د ساپوهنې موضوع او د سړيتوب (Personality) مهمه برخه ده . هوښيارتيا ته د ورځني ژوند د چارو د سرته رسولو په ډيرو برخو کې اړتيا ده له دې کبله ئې د ډيرو پوهانو پام ځانته را اړولی دی او د خپلو څيړنو برخه ئې ګرځولې ده.

# د هوښيارتيا پيژند

(Difinition)

ډيرو پوهانو د خپلې څيړنې او معلوماتو په بنسټ هوښيارتيا پيژند ( تعريف ) کړی دی. ميک ډوګل (Mc – Dougall) هوښيارتيا هغه ميراثي توان ګڼې چې په خاص چوکاټ کې سړی د چاپيرل سره سمون وکړي ( ۱ ).

وينځل ( Wenzel ) هوښيارتيا د مانا ګانو د اړيکو او مانا ايزو ښتونونو د پيژندنې توان وايي ( ۲ ).

شتېرن (Stern) د ميرځ (Merz) د وينا له مخې هوښيارتيا هغه غونډ توان ګڼي چې په ارادي توګه سوچ په نوو غوښتنو وشي د ژوندون د نوو دندو او شرطونو سره غونډ معنوي سمون وشي او د ژوند شرايط خپله سم کړي او پيداواري(توليدي ) کاروکړي ( ۳ ).

ويکسلر (Wechseler) د هوښيارتيا د لاندې هغه غونډ يا مجموعی توان پوهيږي چې سړی پکې سم سوچ ( اند ، فکر ) هدفمند يا موخه ايز عمل او د چاپيريال (ميحط ) سره اغيزناک چلند وکړي.

دې ته هم ګوته نيسی چې د امريکا په متحده رياستونو کې يو مشهور ساپوه (Psychologist) د دې پوښتنې په ځواب کې چې هوښيارتيا څه شی دی ويلي و چې « څه چې د هوښيارتيا تله اندازه کوي هغې ته هوښيارتيا وايي ( ۴ ) .
ميرځ (Merz) بيا په دې ښتون کې ليکي چې « د هوښيارتيا دومره زيات ډولونه شته دی لکه څومره چې د هوښيارتيا يو د بل سره توپير لرونکي تلې شته» ( ۳ ) .
دا سمه ده چې د هوښيارتيا ډير ډولونه شته دی خو داسې هوښيارتيا هم شته دی چې د هوښيارتيا د رواجي ( عنعونوی ) تلو په واسطه اندازه کيدلی نه شي لکه جزباتي هوښيارتيا (Emotionale Intelligence) چې امريکني ساپوه دانيل ګولماين (Daniel Goleman) د يو کتاب نوم هم دی.
همدعسې د بري هوښيارتيا چې د يوه بل امريکني ساپوه روبرتشټرن برګ (Robert Sternberg) د ليکنې نوم دی . په ورځني ژوند کې بری د سپړنيزي (تحليلي ) نوښتې ( ايجادي ) او عملي هوښيارتيا پايله يا نتيجه ګڼي . د شټرن برګ (Sternberg) د هوښيارتيا دا درې واړه برخې د يوبل سره نژدې تړون لري .
سپړنيزه ( تحليلي ) هوښيارتيا پکار ده کله چې سړی ربړې روښانه وي او د يوې نظر يې د ګټور توب په هکله قضاوت کوي. نوښتې هوښيارتيا ته حاجت دی تر څو چې ښې نظر يې مخ ته راشي. عملي هوښيارتيا ته اړتيا ده تر څو چې ددې نظريو څخه کار واخستل شي او په اغيزناکه توګه په عمل کې پلي شي شټرن برګ (Sternberg) د بری هوښيارتيا د ورځني ژوند په بيلګو مدلله کوي چې وايي: يوې اندازې سپړنيزې هوښيارتيا ته سړی د بازار د پيداوارو ( توليداتو )د پيژندلو لپاه اړتيا لري نوښتې هوښيارتيا ددې غم خور ي چې دا پيداوار (توليدات) منځ ته راشي او عملي هوښيارتيا د پيداوارو د پکارونې لپاره ضروري ده. هغه انسانان چې د بری د هوښيارتا اندازه ئې جګه وي . خامخا هغه کسان نه دي چې د هوښيارتيا پدې درې واړو برخو کې لوړ توان او ځواک خاوندان دي. بلکې په ډيره پيمانه سره د دوې د وسه دا پوره ده چې د کمزورو اړخونو انډول د زورورو اړخونو په واسطه برابر کړي او د خپل ټول توان څخه ښه ګټه واخلي ( ۵ ) .

د پورتنيو ټکو څخه راپه ګوته کېږي چې د هوښيارتيا کوم عمومي منل شوې پيژند ( تعريف ) نه شته دي او هم د هوښيارتيا ډير ډولونه شته دي چې ټول ئې د هوښيارتيا درواجي يا عنعنوي تلو په واسطه تلل کيدلي نه شي خو بنسټي او کره برخه ئې د هوښيارتيا د تلو په واسطه اندازه کيدلي شي . که چيرته سرې د هوښيارتيا د تلو په بنسټ د هوښيارتيا د پيژند (تعريف ) هڅه وکړي نو ويلې شي چې هوښيارتيا د سم اندي ( منطقي ) اصولونو او نښتونونو د پيژندنې او پکارونې توان دی.

## د هوښيارتيا جوړښت

(Intelligenzstruktur)

د هوښيارتيا د جوړښت په هکله هم مختلفې نظريې شته دي چې دلته ئې ځيني په لنډ ډول انځوريږي.

### د شپير مان (Spearman) نظر يه :

شپيرمان ( Spearman ) وايې چې د هوښيارتيا چاري دوه توانونه په ګډه سمبالوي چې يو يې غونډ ( عمومي ) توان دي چې په هر چار کې پکاريږي او بل ئې نوميرلې ( خاص ) توان دي چې په نوميرلي ( خاصه ) چاره کې رول لوبوي ( ۶ ) .

### د ترسټن (Thursten) نظر يه :

ترسټن (Thursten) وايې چې د هوښيارتيا غونډ ( عمومي ) توان نه شته دی بلکې زيات شمير توانونه شته دی چې مختلفې چارې سرته رسوي. په هره چاره کې يو شمير ددې توانونو اغيزه (تاثير ) لري او داسې چار هم پيدا کيږي چې يوازې يو توان ئې سرته رسولې شي . ترسټن (Thursten) يو دبل په خوا کې د نهو ( ۹ ) توانونو څخه خبرې کوي چې يوازې د شپږو ( ۶ ) ئې پيژند ( تعريف ) شويدې او هغه د ژبنيز پوهاوي ، د رواني ګړيدنې ، د ځاې د پيژندلو ، د شميرنې ، د يادښت او د سوچ (فکر ، اند ) توان دی.

**د انګلیسي ښوونځي نظریه**: برت ( Burt ) او ورنن ( Vernon) د انګلیسي ښوونځي نماینده ګان ګڼل کیږي. دوی د شپیرمان ( Spearman) نظریه د غټو او کوچنیو ډله ایزو توانونو د یو ځای کولو پواسطه بشپړه کړه. د دې نظریه ئې له مخې د هوښیارتیا په چارو کې د غونډ (عمومي ) او نومیرلي (خاص ) توان سربیره غټ او کوچني ډله ایز توانونه هم پکاریږي.

**د مایلي (Meili) نظریه** : د مایلي د هوښیارتیا د جوړښت نظریه د انځورونو ( شکلونو ) په ساپوهنه (Gestaltpsychologie) ولاړه ده . دې د هوښیارتیا د توانو داسې پیژند کوي چې د سوچ د انځورې ساپوهنې د نظریې سره سمون خوري او لاندې توانونه را په ګوته کوي .

**۱ ) د پیچلو چارو د سرته رسولو توان :**
دلته مطلب ټول معنوي ځواک دې چې غونډ په کار وړل کیږي. مایلي (Meili) وایي چې د توکمونو ( عناصرو ) شمیر او پراخوالې مهم نه دې بلکې دا ارزښت لري چې څه ډول ګډه اغیزه کوي. د بیلګې په توګه یو پنځه کلن ماشوم یو شمیر سپک او درانه جسمونه بیلولې شي خو دائې له وسه پوره نه ده چې همدغه جسمونه د وزن له مخې په یو قطار کې کیږدي.

**۲ ) د نرمښت توان :** د نرمښت توان مایلي (Meili) د یوه جوړښت په بل جوړښت د بدلیدلو قابلیت او ځواک ته وایي.

**۳ ) د راغونډولو توان :** مایلي (Meili)د بیلو بیلو شیانو د راغونډولو او د هغو څخه د سمت ( ټول ) جوړولو ځواک ته د راغونډولو توان وایي . د پخوانیو معلومو او نوو پیښو او واقیعتونو یو ځای کونه ددې ځواک بیلګه ده.

**۴ ) د اوختلو توان :** دا هغه توان دې چې سړی د سوچ د یوه متن څخه بل متن ته په اسانۍ ورننوزي. مایلي (Meili) وائې چې دا توانونه د هوښیارتیا د هر چار لپاره ی شرط دې ټول ئې یو د بل څخه په ناپیلي توګه تغیر خوړلې شي خو یو د بل پورې په دننه کې تړلي دي چې د هوښیارتیا په هر چار او یا کار کې برخه لري خو یو زیات ، بل کم ( ۶ ).

## د ګيل فورد (Guilford) د هوښيارتيا نظريه :

ګيل فورد (Guilford) د هوښيارتيا جوړښت په يوه سم اندې ( منطقي ) موډل (Modelle) کې په درې برخو ويشلې دې.

### د سوچ يا اند فعاليت :

### د سوچ متن :

### د سوچ پيداوار ( توليد ) :

د سوچ ( اند ) فعاليت په پنځو ډولونو ، د سوچ متن په ځلورو ډولونو ، او د سوچ پيداوار ئې په شپږو ډولونو ويشلې دې. سوچ يو ټاکلى فعاليت په ټاکلي متن سره ټاکلي پيداوار منځ ته را وړي.

پدې توګه سره د هوښيارتيا يو سلو شل ( ۱۲۰ ) توانونه جوړيږي چې تر اوسه پورې ئې پيځوس ( ۵۰ ) را په ګوته شوي دي ( ۷ ). چې دلته ئې مونږ د انځورولو څخه تيريږو او دې خبرې ته راځو چې د هوښيارتيا د اندازې د پرتلې د پاره د هوښيارتيا جوړښتي ورته والي شرط دی . « کله چې دا شرط پوره نه شي او يا په لږه اندازه سره پوره شي نو هوښيارتيا د اندازې د پرتلي هره هڅه د عتباره لوئيږي ځکه چې لاس ته راغلې نتيجې مختلفې مانا وې لري او پدې توګه د هوښيارتيا يو د بل سره نه پرتله کيدونکي برخې رابښائې » ( ۸ ) . په يو شمير خيړنو کې جوته شوې ده چې « د افريقايي تور پوستکو د هوښيارتيا جوړښت د سپين پوستکو څخه توپير لري» ( ۸ ) .

پخپله د سپين پوستکو او د يو کو لتوري ساحې په دننه کې يو شمير ګڼښې (فرضيني ) شته دی چې د هوښيارتيا مختلف جوړښت راپه ګوته کوي . ددې ګڼښو (فرضيو ) د ډلې څخه چې د هوښيارتيا د لړونو د راسپړلو (Faktoranalyse) په بنسټ ولاړې دي تر ټولو مشهورې ئې د عمر د پوخوالي او د استعداد د لوړوالي ګڼښې ( فرضيني ) دي.

## د عمر د پواخوالي ګڼڼه ( فرضيه ) :

ددې ګڼنې له مخې هوښيارتيا په پوخ عمر کې پراخيږي د هوښيارتيا لړونه زياتيږي او د هوښيارتيا جوړښت پېچلي کيږي.

## ۱) د لوړ استعداد ګڼڼه (فرضيه) :

ددې ګڼنې له مخې د لوړ استعداد د خاوندانو د هوښيارتيا جوړښت د هغه کسانو په پرتله چې لږ استعداد لري پراخه او پېچلي دي. خو دا ګڼنې ( فرضيې ) د هغه څېړنو په واسطه ردې شويدي چې په وروستني وخت کې د ډنمارکي پوهانو رش (Rasch) د موډل (Modelle) په بنسټ شوې دي ( ۹ ).

دلته سپاډا (Spada) د يادولو وړ دي چې د ۶۲۹ کسانو چې د لوړ ښوونځي څخه خلاص شوي ؤ هوښيارتيا څېړلې ده. سپاډا (Spada) د هوښيارتيا درى تلې د رش (Rasch) د موډل (Modelle) په مرسته څېړلې دي چې د مختلف عمر د کسانو د پاره ئې يو شانته مانا لرله او د هوښيارتيا په جوړښت کې ئې کوم توپير نه دې مونده کړې ( ۱۰ ).

ددې دوارو لارو ( ميتودونو ، طريقو ) د پرتلې ( مقايسې ) څخه جوتيږي چې د هوښيارتيا د جوړښت په هلکه نظريې په پاى کې د لارې ( ميتود ) پوښتنه ده. خو دلته ددې خبرې يا دول هم ضروري دي چې نن ورځ د هوښيارتيا عملي چارې د انګليسي ښوونځي په بنسټ ولاړې دي.

د جرمني پوهان امت هاور (Amthauer) چې د هوښيارتيا د جوړښت د تلې (Intelligenz-struktur- Test) خالق دي کومه چې په جرمني کې په ورځني ژوند کې تر ټولو زياته کارول کيږي هم د انګليسي ښوونځي د هوښيارتيا د توانونو په نظريه تکيه کوى او د خپل کار په ګڼڼه ( فريضه ) کې دا خبره ردوي چې د هوښيارتيا توانونه هسې يو د بل په خوا کې پراته دي.

بلکې وائي چې «دهوښيارتيا توانونه په جوړښتې نښتون کې دي او يو جوړښت لري چې ټيټې برخې په کې د جګو د اغيزې لاندې دي» ( ۱۱ ).

لنډه دا چې څومره چارې ( کارونه ) هغومره د هوښيارتيا ډولونه شته دې چې د هوښيارتيا غونډ ، نوميرلی او ډله ايز توانونه يکې ښېل ښېل ډول ( قسم ) اغيزه لري د بيلګې په توګه په هنري هوښيارتيا کې نوميرلي ( خاص ) توان ډير او نور لږ برخه لري.

## پيدايښتي او زده شوې هوښيارتيا :

ځيني پوهان د هوښيارتيا د زده کړې په اړخ زور اچوي او وايي چې د هوښيارتيا توان په کار کې وده کوي ځيني نور بيا د هوښيارتيا په پيدايښتي يا ميراثي اړخ ټينګار کوي او وايي چې د کار لپاره توان يا هوښيارتيار شرط ده. دا دواړه نظرونه يود بل سره په تضاد کې نه دي بلکې يو بل بشپړوي. مونږ په دې باب د بيلو بيلو پوهانو د نظريو د راغونډولو څخه تيريږو او په لنډو تور سره وايو چې هوښيارتيا د يوې خوا پيدايښتي يا ميراثي توان دی او دبلې خوا په کار او فعاليت کې وده کوي په نورو تورو سره هوښيارتيا د چاپيريال د اغيزې ( تاثير ) لاندې ده. د بلې خوا هوښياران په چاپيريال اغيزه کوي او د خپلو هيلو سره سم ئې بدلوي. هوښيار پلرونه او ميندې خپلو اولادونو ته د يوې خوا د هوښيارتيا ښه ميراثي توان ورکوي او د بلې خوا څخه ورته ښه چاپيريال برابروي چې هوښيارتيا يکې په ښه توګه وده کولې شي.

د بيلګې په توګه د مور او پلار پر مخ تللې ژبه او د اولاد او بچيانو پوښتنو ته په ښه ډول ځواب ورکول ، د ښوونځې ټاکنه ، د ښوونځې په چارو کې مرسته او هم په کور کې پراته کتابونه او نورې اسانتياوې په ماشوم اغيزه لري او د هوښيارتيا توان ئې غښتلې کوي. دلته د هوښيارتيا ميراثي ماده او چاپيريال دواړه يو په بل مثبته اغيزه لري.

د هوښيارتيا د پيدايښتي يا ميراثي مادې او د چاپيريال د اغيزې د معلومولو لپاره زيات شمېر څېړنې په مختلفو هيوادونو کې شوې دې چې په مختلفو چاپيريالو نو کې په لوی شوو غبرګونو شوې څېړنې ئې مهمې دي.

( د يوې هګۍ او د دوو هګيو غبرګونې ) او يا موروثي مختلف کسان چې په يو شان چاپيريال کې لوې شوې وي لکه يتيمان چې ديتيمانو په يوه کور کې اوسيږي.

## ۱ ) د غبرګونو د هوښيارتيا څيړني :

د غبرګونو د هوښيارتيا د ګڼ شمېر څيړنو څخه مونږ د نيومان (Neuman) او د هغه د ملګرو ګډه څيړنه راپه ګوته کوو چې په ۱۹ جوړه غبرګونو شوې ده. ددې څيړنې د پايلو ( نتيجو ) څخه جوتيږي چې د يوې هګۍ بېل لوې شوي غبرګوني د يوې هګۍ د هغه غبرګونو په پرتله ( مقايسه ) چې ګډ لوې شوي وي لږ يو بل ته د هوښيارتيا په برخه کې ورته والي ( مشابهت ) لري خو بيا هم دا ورته والي ډېر جګ دې د يوې هګۍ غبرګوني زيات وخت دوه غبرګوني هلکان يا دوه غبرګوني نجوې وي . د دوه هګويو غبرګوني زيات وخت هلک او انجلۍ وي . د بي ني (Binet) د هوښيارتيا د تلې له مخې د يوې هګۍ بېل لوې شوي غبرګوني په سلو کې ۶۷ او د اوتيس (Otis) د هوښيارتيا د تلې له مخې په سلو کې ۷۳ نښتون لري يعنې د يوې هګۍ غبرګوني چې بېل بېل چاپيريال کې لوې شوي وي يو بل ته د هوښيارتيا په برخه کې سلو کې ۶۷ يا په سلو کې ۷۳ ورته والي لري ، چې په ميراثي ماده ولاړ دې همدغه شان د يوې هګۍ د غبرګونو چې بېل بېل لوې شوي وی تر منځ د هوښيارتيا په برخه کې ورته والی د دوه هګيو د غبرګونو په پرتله چې يو ځاې لوی شوي وي جګ دی ( ۱۲ ) .

پدې منځ کې د يوې هګۍ په غبرګونو چې بېل بېل لوې شوي دي زيات شمېر څيړنې په تېره بيا په امريکا ، انګلستان او ډنمارک کې د مختلفو پوهانو لخوا شويدي چې د هوښيارتيا مختلفې تلې پکې پکارول شويدي ، ددې څيړنو د نتيجو له مخې هم د هوښيارتيا په برخه کې د يوې هګۍ د غبرګونو تر منځ چې بېل بېل چاپيريال کې لوې شويدي په سلو کې د ۶۳ څخه نيولې د ۸۶ پورې ورته والې راپه ګوته شويدي چې په منځنۍ توګه په سلو کې څه د پاسه ۷۰ ورته والي جوړيږي (۱۳ ) .

## ۲ ) په يو شانته چاپيريال کې د لوې شوو ماشومانو د هوښيارتيا څيړني :

پدې برخه کې هم زيات شمېر څيړنې شويدي په تېره بيا ميرځ (Merz) او شتيځل (Stezl) يو شمېر څيړنې را په ګوته کوي چې په امريکا کې شويدي.

ددغه څېړنو له مخې د هغه ماشومانو تر منځ چې يو د بل سره خپلوان نه دي او په يوه کور کې لوي شوي دي د هوښيارتيا په برخه کې په منځنۍ توګه په سلو کې ۳۲ ورته والي مونده شويدي چې د چاپيريال محصول دي . دوې زياته وی چې برت (Burt) د چاپيريال توپيرونو ته هم پاملرنه کړې وه . او د کورنيو شرايط ئې چې دواړه ملګري په کې لوی شوي و . د مادي شتمنۍ او کولتوري اړخونو پر بنسټ بيل کړي و . او د بي ني (Binet) د هوښيارتيا تله ئې استعمال کړې وه . د هوښيارتيا او کولتور تر منځ په سلو کې ۲۶ نښتون او د هوښيارتيا او مادي شتمنۍ تر منځ په سلو کې ۱۴ نښتون مونده کړې دي ( ۱۳ ) .
دا ددی مانا لري چې هوښيارتيا په سلو کې ۲۶ د کولتور يا روزنې او په سلو کې ۱۴ د مادي يا اقتصادي شتمنۍ محصول کيدلې شي . ددې خبرې مطلب دا نه دې چې ګنې دولتمند خلک په عمومي توګه د غريبو څخه هوښيار دي ، صرف دا راپه ګوته کوي چې دولتمند خلک کولې شي چې خپلو بچو ته د چاپيريال داسې شرايط برابر کړي چې هوښيارتيايې پکې په سلو کې ۱۴ زياته وده کولی شي . که چيرې سړی تر اوسه پورې د ټولو مهمو څېړنو نتيجې په پام کې ونيسي نو وبه ګوري چې يو څه توپير پکې شته دې خو يو د بل په ضد نه دي او په عمومي توګه ئې انډول برابر دې او سړی کولې شي چې و وائې چې د انسان عمومي هوښيارتيا په سلو کې ۷۰ پيدا ايښتي يا ميراثي او په سلو ې څه ناڅه ۳۰ د چاپيريال محصول دي خو ځانګړي ( استثنايي ) حالتونه هم شته دې چې په کې د هوښيارتيا پيدايښتي ماده د پورتنئ اندازې څخه ډيره جګه وي. هغه انسانان چې د هوښيارتيا دا ډول جګه پيدا ايښتي ماده لري ژني (Genie) يا نابغه ګڼل کيږي. ژني يا نابغه انسانان د چاپيريال د لږې اغيزې د لاندې وي او په هر ډول چاپيريال کې د نورو څخه ښه او زيات کار کولې شي .
بله خبره دا ده چې دا څېړنې په لوديزه نړۍ يانی په اروپا او امريکا کې شويدي او پايلې ( نتيجې ) ئې هم د لوديز د ټولنو لپاره اعتبار لري د پښتني ټولنې لپاره ددې پايلو( نتيجو ) د اعتبار په برخه کې احتياط پکار دې دا خبره مونږ د خپلې يوې څېړنې د نتيجو په بيلګه سره روښانه وو چې په ۱۹۷۴ ع کال کې د برې پښتونخوا د کونړ د ولايت د عمراخان ، نورګل ، خاص کونړ ، او څوکۍ په ليسو کې شويده .

ددې څېړنې په لړ کې مونږ د هوښيارتيا او ښوونځي د نمرو نښتون ته پاملرنه وکړه . د څېړنې په پايله ( نتيجه ) کې ثابته شوه چې د هوښيارتيا او ښوونځي د نومرو تر منځ نښتون نه شته دی حال دا چې د لويديزې نړۍ په څېړنو کې د هوښيارتيا او ښوونځي د نمرو تر مينځ نښتون ښودل شويدې.
ياني هغه زده کوونکي چې ښې نمرې لري هوښيار هم دي ځکه چې په لوديزه نړۍ کې د ښوونځي نمرې د زده کوونکي د هوښيارتيا او کوښښ په بنسټ ولاړې دي .
خو د پښتونخو د کونړ په ولايت کې بيا دا اصول نه چليږي د ښونځي په نمرو کې رشوت ، واسطه او د زده کونکي د کورنۍ ټولنيز مقام رول لوبوي او له دې کبله ئې د هوښيارتيا سره نښتون نشته دی.
د نښتون ( Korrelation=r ) د اندازې د معلومولو له پاره د ساپوهنې د شميرنې (Staisitk) په برخه کې مختلفې لارې شته دی چې ځانته بيله موضوع جوړوي او له دې کبله ئې دلته د انځورولو څخه تيريږو .

## د کولونو ( نسلونو ) د هوښيارتيا توپيرونه :

په نړۍ کې انسانان پرله پسې هوښياريږي . دا ميلان چې نوې کول ( نسل ) د پخواني کول ( نسل ) څخه هوښيار دي د هوښيارتيا په تلو کې چې د لسيزو راهسې پکارول کيږي په ثبوت رسيدلې دي ( ۵ ) .
د دې خبرې علت د هوښيارتيا او چاپيريال په نښتون کې پروت دی د يوې خوا د چاپير يال يا ټولنې وده د انسانانو په هوښيارتيا مثبته اغيزه کوي او له بلې خوا هوښيارتيا په تيره بيا تخنيکي هوښيارتيا د چاپيريال او ټولنې په پر مختګ او بدلون کې مهم رول لوبوي .نن ورځ د تخنيکي هوښيارتيا په برکت په نړۍ کې تخنيکي وسايلو او کمپوترونو دومره وده کړيده چې نړۍ ئې د يو کلي په شان راغونډه کړيده چې د ګلوباليزيشن (Globalisation) په نوم ياديږي.

## د هوښيارتيا تلې او تلنه :

د هوښيارتيا تول : کله چې سړی يو څه تلي يا اندازه کوي نو د تلو يا کندو او پيمانو سربيره تولو او اندازو ( ناپونو ، کچونو ، معيارونو ) ته اړتيا ده مونږ په ورځني ژوند کې کله چې خوراکي شيان تلوو د من ، چارک ، پاو ، خورد او هم د کيلو ګرام او ګرام د اندازو سره بلد يو . يا د تودوښې د پيمانې په ښتون کې د سانتي ګراد د اندازې سره اشنا يو ، همدغه شان يوه توله اواندازه يا ناپ د هوښيارتيا د تلو سره هم شته دې چې د ائی کيو (Intelligence quatient = IQ) په نامه يادېږي.

## د هوښيارتيا توله ای کيو ( IQ ) :

ددې تولې مينځ ته رتګ د هوښيارتيا د تلې د جوړيدلو او ودې سره تړون لري او پدې ښتون کې روښانه کيدلې شي. د هوښيارتيا د تلو د جوړېدلو په برخه کې دوه تنه د يادولو وړ دي چې يو ئې د انګلستان ساپوه فرانسس ګالټون (Francis Galton) دي چې ددې هڅه ئې وکړه چې د هوښيارتيا درجه اندازه کړي چې بيا وروسته امريکني ساپوه ميک کرين کټل (Mc Kreen Cattet) دده نظربه خپله کړه او د سوچ يا ( اند ، فکر ) په نامه تله ئې جوړه کړه چې نن ورځ د امريکا د هوښيارتيا د تلو د ساپوهني بنسټ جوړوي. بل ئې فرانسوي پوهان الفرد بي ني (Alfred Binet) دي چې په ۱۹۰۵ ع کال کې د فرانسې د پوهنې د وزارت په غوښتنه سره دهوښيارتيا يوه تله جوړه کړه چې په اروپا کې د هوښياتيا د تلو د ساپوهنې تاداو جوړوي. بي ني (Binet) د هوښيارتيا يو شمير پوښتنې جوړې کړې او کومې پوښتنې چې د يوه عمر د کسانو درې پر څلور ۳/۴ برخې سمې حل کړې وې هغه ئې د هماغه عمر د کسانو د هوښيارتيا ناپ يا اندازه وګڼله.

نو که چا به د کوم عمر ټولې پوښتنې سمې حل کړې وې نو د هغه عمر هوښيارتيا به ورته ومنل شوه او د نورو حل کړو پوښتنو به يو پر پنځه برخه ورسره جمع کيدله ځکه چې د هر عمر د کسانو له پاره د هوښيارتيا پنځه پوښتنې جوړې شوې وی.

د بیلګې په توګه که یوه نهه کلن ماشوم د اته کلن د هوښیارتیا ټولې پوښتنې ، نهه کلن څلور ، د لس کلن درې او د یوولس کلن هم درې پوښتنې حل کړې وی نو دا ټولې لس پوښتنې کیږي چې یو پر پنځه برخه ئې چې دوه کیږي د اتو سره جمع کیږي او لس تر جوړیږي نو ددې نهه ( ۹ ) کلن ماشوم هوښیارتیا د خپل عمر د کسانو څخه زیاته ده او د ( ۱۰ ) کلنو ماشومانو د هوښیارتیا سره برابره ده.
د شمیرنې پدې طریقه ویلیم شټرن (William Stern) اعتراض وکړ او دې ته ئې ګوته ونیوله چې که چیرته یو شپږ کلن ماشوم د خپل عمر د ماشومانو څخه دوه کاله وروسته پاتې وي نو دا ډیره وروسته پاتې والی دی نسبت هغې ته چې نهه کلن ماشوم د خپل عمر د کسانو څخه دوه کاله وروسته پاتې وي . همدغه یوه اندازه بیرته پاتې والی بیله مانا لري. لدې کیله ده دا وړاندینه وکړه چې د هر تن د هوښیارتیا لوي والی دې د هغه په عمر وویشي.
د هو ښیارتیا دا ویش (Intelligenz Quotient) چې په لنډو تورو سره ائی کیو ( IQ ) نومیږي نن ورځ د هوښیارتیا یوه داسې توله یا ناپ او اندازه ده چې د هوښیارتیا په ټولو تلو کې په پکار وړل کیږي ( ۱۴ ) خو دلته دې خبرې ته هم پاملرنه کیږي چې « دغتانو د هوښیارتیا څه نا څه نیمایي د څلور کلنۍ پورې وده کوي او نور په سلو کې ( ۳۰ ) ئې د اته کلنۍ پورې منځ ته راځي.
او د ( ۱۷ ) کلنۍ د عمر پورې پاتې په سلو کې ( ۲۰ ) وده کوي ( ۱۵ ). او د څلویښت کلنۍ پورې بیا نسبتا ثابته پاتې کیږي او وروسته ورو ورو کمیږي. خو که سړی معنوي فعال پاتې شي ، نو ددې کمښت مخه هم په ډیری اندازې سره نیول کیږي. لدی کبله په عمر باندې د هوښیارتیا د لوی والې په ویش (Intelligence Quotient) کې تر (۱۷ ) کلنۍ پورې عمر ته پاملرنه کیږي. او بیا تغیر نه خوري. د هوښیارتیا د تولې ائی کیو (IQ) سربیره دبنسټې ارزښتونو یا نورمونو څخه او هم د اومو ارزښتونو څخه د هوښیارتیا په تلو کې خبرې کیږي.

**بنسټي ارزښتونه يا نورم** : دلته د هوښيارتيا مختلفي تلې ددې د پاره چې پايلې ( نتيجې ) ئې يو د بل سره پرتله ( مقايسه ) شي په يو بنسټ ودرول شويدي چې منځنى ارزښت (Mittelwert) ئې سل (١٠٠ ) او شيندنه خوريدنه (Streuung ) ئې لس ( ١٠ ) ده. له دې کبله د بنسټي ارزښتونو (Standardwerte) په نامه ياديږي. ددې ارزښتونو د لارې د هوښيارتيا د مختلفو تلو نتيجې يو د بل سره پر تله کيدلې شي.

اوم ارزښت (Rohwert = RD): اوم ارزښت د هوښيارتيا د تلې د سم حل کړو پوښتنو شمير يا مجموعې ته وائي چې بيا په بنسټي ارزښت او بنسټي ارزښت د هوښيارتيا په تولې ( IQ ) بدليږي او پدې توګه د يوتن د هوښيارتياکچ يا اندازه راپه ګوته کيږي.

## د هوښيارتيا تلې :

نن ورځ د هوښيارتيا زيات شمير تلې شته دی خو مخکې لدې چې په دې باب وغږيږو د تلو د غوره والي نښو ته لنډ نظر اچوو.

**د تلې د غوره والي نښې** : يوه تله هغه وخت غوره تله ګڼل کيږي چې لاندې نښې ولري.

١ ) **سموالى يا د باور وړتوب** (Reliabilty) : دلته مطلب دا دی چې څومره يوه تله ټيک او سم بې له غلطۍ څخه تلل کوي. دا پته په ښه توګه د تکرار تللو د نښتون په بنسټ لګيدلې شي.

٢ ) **د اعتبار وړ توب** (Validity) : دلته دا پوښتنه کيږي چې ايا دا تله هغه څه تلې څه چې سړی ئې تلل غواړي . د هوښيارتيا د تلې په برخه کې مطلب دا دی چې ايا دا تله هوښيارتيااندازه کوي او که بل څه ؟

دې پوښتنو ته په مختلفو لارو ځواب ويل کيدلې شي خو ښه لاره ئې د هوښيارتيا د بلې تلې سره او يا د ښوونکو د قضاوتونو سره نښتون دې چې د خپلو زده کوونکو هوښيارتيا اټکل کوي.

۳ ) ذهني ناپيلتوب (Objectivity) : دلته مطلب دا دې چې تله د تلونکي د اغيزې څخه ناپيلي وي . دا هغه وخت کيدلې شي چې ټول تلونکي يو شانته نتيجې ولري نو تله ئې د ذهن د اغيزې څخه ناپېيلي او يا د يو شان اغيزې د لاندې ده ذهني مساوات هم د ذهن څخه د ناپيپلتوب ( عينيت ) مانا لري ياني که هر څوک يوه شي ته چينک ووايي نو بيا هغه چاينک دي او د چا د ذهن پورې تړلې نه دی او له ذهنه ناپېپلې دې . د هوښيارتيا تلې په غونډه توګه په دوه ډوله ويشل کيږي .

## الف: د ژبې پورې تړلې د هوښيارتيا تلې :

په دی تلو کې ژبني مواد کارول شويدي چې د يوې نوميرلي ټولنې پورې اړه لري . په يوه برخه کې چې عملي هوښيارتيا اندازه کوي د مختلفو جسمونو څخه هم کار اخستلې شو دې خو دا جسمونه هم د يوې نوميرلي ( خاصې ) ټولنې د روزنې د دود پورې اړه لري او د پښتني ټولنې د پاره لړ ارزښت لري لدې کبله مونږ ئې په انځورولو سر نه خووږ . خو د ژبني استعداد يا هوښيارتيا يوې خپلې څيړنې ته راځو چې مونږ په پښتونخوا کې کړيده.

## خپله څيړنه (۱۹۷۶ ع) :

په ژبني هوښيارتيا کې د رواني ګړيدنې ( بلاغت ) او روښاني ګړيدنې (فصاحت) توان ډير مهم دی د رواني ګړيدنې د توان د اندازه کولو لپاره په ساپوهنه کې د راياد يدنې يا پيوستون (Association) د لارې ( طريقې يا ميتود ) څخه کار اخستل کيږي او هغه دا ده چې څيړونکي د ژبې د الفبا په تورو کې يو څو خوښوي او په څيړنه کې د برخه اخستونکو کسانو څخه هيله کوو چې په يو ټاکلي وخت کې ټول هغه لغتونه چې په ټاکلي توري ( حرف ) پيل کيږي ووايې يا وليکي د بيلګې په توګه ټول هغه لغتونه چې په «ل» پيل کيږي په لسو دقيقو کې ووايې يا وليکي . هر څومره زيات لغتونه چې سړی ته پدې وخت کې راپه ياديدلې شي هغومره ئې د رواني ګړيدنې او هم د روښانې ګړيدنې توان زيات دې څکه چې روانه ګړيدنه او روښانه ګړيدنه يو د بل سره جګ نښتون لري .

مونږ د پښتونخوا د کونړ په ولایت کې د ښوونځي د زده کوونکو څخه هیله وکړه چې ټول هغه لغتونه چې په « ک » پیل کیږی ولیکي او لس ( ۱۰ ) دقیقې وخت مو ورته وکړ.
وروسي مو ترې وغوښتل چې ټولې لنډۍ چې ورته یادوي ولیکی او دا پیره مو هم لس ( ۱۰ ) دقیقې وخت ورته ورکړ په څېړنه کې سل ( ۱۰۰ ) زده کوونکو برخه اخستلې وه چې ( ۳۲ ) ئې جنکۍ او ( ۶۸ ) هلکان و. په لسو ( ۱۰ ) دقیقو کې جنکو په منځني توګه ( ۲۷ ) لغتونه او ( ۱۳ ) لنډۍ ، هلکانو ( ۲۱ ) لغتونه او (۸) لنډۍ لیکلې وې ، د نتیجو څخه راپه ګوته کیږي چې د روانې او روښانې ګړیدنې په برخه کې د ښوونځی جنکۍ زده کوونکې د ښوونځي د هلکانو څخه زیات توان لري. پدې ځیړنه کې د لغتونو د شمیر یا اندازې او لنډیو د شمیر یا اندازې تر منځ په سلو کې ( ۶۸ ) ښتون را په ګوته شویدې هغه کسانو چې ډیر لغتونه ئې لیکلې و ډیرې لنډۍ ئې هم لیکلې وي. مطلب دا دې چې په پښتني ټولنه کې د لنډیو په واسطه هم د روانې او روښانې ګړیدنې توان معلومیدلې شي. د لنډیو د متن د سپړلو ( تحلیل ) څخه د لنډیو لیکونکي د سړیتوب ( شخصیت ) په باره کې معلومات هم لاس ته راتلل دا د دې مانا لري چې لنډۍ په پښتني ټولنه کې د سړیتوب (Reliabilty) د سپړلو (Analyse) وسیله ده زمونږ په پرتله ئې کتنه کې ښودل شویده چې هغه پښتانه ماشومان چې په جرمني کې پیدا شویدي او یا ئې په جرمني کې ډیره موده تېره کړې وي په پښتونخوا کې د اوسیدونکو ماشومانو په پرتله په لږو لنډیو پوهیږي او هم ئې په پښتو ژبه کې د روانې ګړیدنې توان کم دې.
دا ماشومان یوه اندازه د خپل کولتور څخه پردي شوي دي ځکه چې پښتو ژبه او لنډۍ دواړه د پښتني کولتور برخه ده هر ژبه ټولنیز ملکیت دې او پښتو ژبه د پښتني ټولنې ملکیت دی او له دې کبله د پښتني کولتور برخه ده همدغه شان لنډۍ چې یو بیته شعر دی چې لومړنۍ مسرۍ نهه او دوهمه مسرۍ ئې ( ۱۳ ) سیلابه ده او په اخر کې هه ( ه ) راځي ځانګړې یا ډله ایز معنوي پیداوار (تولید) دې او د پښتني ټولنې ملکیت او پانګه ده او هیڅوک ددې دعوه نه کوي چې دا یا هغه لنډۍ ئې جوړه کړیده. هر پښتون په یو شمیر لنډي، پوهیږي چې د پښتني کو لتور سره ئې اړیکي راښائي.

## ب ) د ژبې څخه ناپېیلې د هوښیارتیا تلې :

دا تلې د پښتني ټولنې د پاره هم د پاملرنې وړ دي ددې تلو ضرورت په تېره بیا په لومړۍ نړیواله جګړه کې په امریکا کې د پوځیانو له خاطره پیدا شو چې په مختلفو ژبو غږېدل ، مختلفه د روزنو درجه ئې لرله او د مختلفو قومونو پورې ئې اړه لرله ( ۱۶ ).

د مساوي چانس د ناري د لاندې د پوځ د الفا د هوښیارتیا د تلې (Army–Alpha–Test) چې د ژبې پورې تړلې وه یوه د ژبې څخه ناپیېلې بڼه جوړه شوه چې د پوځ د بیتا په تله (Army – Beta – Test) مشهوره شوه. ددغه وخت راهسې زیات شمیر د ژبې څخه ناپیېلې د هوښیارتیا تلې منځ ته راغلې دی چې تر ټولو زیاتې ئې د انګلیسي پوهان ریون (Raven) د پر مختللو ماتریسو (Progressive- Matrices–Test) د هوښیارتیا تله او د دانیل (Daniel)په شکلونو کې د هوښیارتیا تله ( ۲۰ ).

په عملي چارو کې استعمالیږي پر له پسې دا نظریه غښتلې کیده چې دا د ژبې ناپیېلې تلې د کو لتور څخه هم ناپیېلې دي. د وایس ( Weiss) د وینا له مخې کټل (Cattel) خپله د هوښیارتیا تله د ژبې څخه د ناپیېلتوب له کبله د کو لتور څخه ازاده او ناپیېلې وګڼله ( ۲۱ ).

په هر ډول سره د هوښیارتیا د تلې د کولتور څخه په ناپیېلتوب اعتراض ( انتقاد ) هم زیات شو چې په دې منځ کې تر ټولو جګ پړاو ته رسیدلې دی.

میرخ (Merz) په دې نښتون کې لیکلي چې ده د خپلې څیړنې په لړ کې ثابته کړیده چې سړی د ژبې څخه دهوښیارتیا په ناپیېلې تله کې پایلې ( نتیجې ) زیاتې ښې کولی شي. کله چې د هغه کسانو څخه چې هوښیارتیا ئې تلل کیږي غوښتنه وشي چې هر څه چې ویني یا سوچ ئې کوي په جګ اواز ووایې په داسې حال کې چې د ژبې پورې د هوښیارتیا په پیېلې تله کې پدې توګه پایلې ( نتیجې ) نه ښې کیږي او یا ډیرې لږې ښې کیږي دا واقیعت میرخ (Merz) بیا داسې روښانوي چې « د ژبې څخه د هوښیارتیا په ناپیېلو تلو د ژبې او په دې توګه د کولتوري چاپیریال اغیزه زیاته ده ( ۲۲ ).

ددې څخه را په ګوته کيږي چې د ژبې څخه د هوښيارتيا په نا پيېلې تله کې ژبه مهم رول لوبوي او د ژبې څخه د هوښيارتيا ناپيېلې تلې بشپړې د ژبې څخه ناپيېلې نه دي ، بلکې له ژبې سره خاصې اړيکې لري.

ډرنت (Drenth) او فان د يرفلير (Von Der Flier) همدا خبره پخوي او ليکي چې زيات شمير د ژبې څخه د هوښيارتيا ناپيېلې تلې همدغومره د کو لتوري لړونو پورې ترلې دي لکه څومره چې د ژبې پورې پيېلې تلې دي ( ۲۳ ).

ځيني نور پوهان په تيره بيا شو يبکي (Schwebcke) لوک (Luck) جاندرون (Jandron)جوزی (Jose) کاليف (Calif) دې ته ګوته نيسی چې په دې نوي وخت کې دا پر له پسې روښانيږي چې د هوښيارتيا د ژبې د پيېلو تلو په پرتله د ژبې څخه ناپيېلې تلې ډيرې د کولتوری اغيزې لاندې دي ( ۸ ).

په دې برخه کې ما خپله هم په ۱۹۷۴ ع کاله کې د جرمني د فرانکفورت د پوهنتون په سپارښت څيړنه کړيده چې دلته انځوريږي ( ۲۴ ).

## خپله څيړنه ( ۱۹۷۴ ع کال ):

ددې څيړنې سرچينه دا خبره وه چې د ژبې څخه د هوښيارتيا ناپيېلې تلې د لوديځ په کولتوري ساحه کې چې د کينږ څخه ښی خواته ليکل کوي د لويديځ د ليک دود او د سوچ د عادتونو سره سمې جوړې شوې دي او له دې کبله د هغه کو لتوري ساحو د کسانو د پاره چې د ښې څخه کينږ خواته ليکل کوي سختې دي . ددې خبرې د څيړنې له پاره مونږ د انګليسي پوهان دانيل (Daniel) په شکلونو کې د هوښيارتيا تله (Figure Reasoning Test) د آينی ( هنداري ) د تصوير په شان د کينږ څخه ښي ته واړوله او د هوښيارتيا آينه مو ونومولو په شکلونو کې د هوښيارتيا د تلې او د هوښيارتيا د آينې توپير ددې دواړو تلو د يوې پوښتنې د انځورولو په بيلګه سره روښانوو.

# ببلګه

## د هوښيارتيا آينه





# ببلګه

## په شکلونو کې د هوښیارتیا تله



د هوښيارتيا د آينې د جوړولو او په جرمني او بره پښتونخوا ( افغانستان ) کې د پوهنې د وزارتونو د اجازې د لاس ته راوړلو وروسته لومړې د پښتونخو او بيا د جرمني په ښوونځيو کې ددې پوښتنې په څېړنه پيل وشو چې ايا په شکلونو کې د هوښيارتيا د تلې پاينې ( نتيجې ) د هوښيارتيا د آينې پايلو ( نتيجو ) سره توپير لري ؟

**لاره ( ميتود ) :** په پښتونخوا او جرمني کې زده کوونکي چې عمر ونه ئې له ( ۱۴ ) نه نيولې تر ( ۱۷ ) کلونو پورې رسيدل په ناڅاپي توګه په دوه ډلو د « الف » ډله او « ب » ډله وويشل شو چې په هره ډله کې سل کسان و د « الف » د ډلې هوښيارتيا په شکلونو کې د هوښيارتيا د تلې او د « ب » د ډلې هوښيارتيا د هوښيارتيا په آينې وتلل شوه. وروسته د يوې مياشتې څخه د هوښيارتيا تلل تکرار شو خو دا په داسې توګه چې د « الف » ډله چې پخوا ئې هوښيارتيا په شکلونو کې د هوښيارتيا په تله تلل شوې وه دا ځل ئې هوښيارتيا د هوښيارتيا په آينې وتلل شوه او برخلاف د « ب » ډله چې پخوا ئې هوښيارتيا د هوښيارتيا په آينې تلل شوې وه دا ځل په شکلونو کې د هوښيارتيا په تله وتلل شوه داخبره په لاندېنو ټکو کې راغونډ‌ه‌وو .

| د ب ډله | د الف ډله |
| --- | --- |
| ( سل تنه ) | ( سل تنه ) |
| د هوښيارتيا آينه | په شکلونو کې د هوښيارتيا تله |
| | ( يوه مياشت وروسته ) |
| په شکلونو کې د هوښيارتيا تله | د هوښيارتيا اينه |

د پښتونخوا د کونړ ولایت ( صوبه ) په ښوونځیو کې د زده کوونکو چې د هوښیارتیا په تلنه کې ئې برخه اخستلې ده د عمرونو ، ښوونځیو ، ټولګیو ، د میندو د شمیر او د پلرونو د دندو ویشنه په لاديِ ډول ده .

# لومړی ویشنه

## (لومړی برخه)

| | د الف تله | د ب تله |
|---|---|---|
| عمر | د زده کوونکو شمیر | د زده کوونکو شمیر |
| ۱۴ | ۱۲ | ۱۲ |
| ۱۵ | ۱۹ | ۲۰ |
| ۱۲ | ۴۰ | ۱۷ |
| ۱۷ | ۵۲ | ۴۷ |

څرنګه چې په پښتونخوا کې څینو ته خپل سم عمر معلوم نه دی نو دا عمرونه اټکلي دي

# لومړی ویشنه

## (دویمه برخه)

| ښونځی | د الف ډله | د ب ډله |
|---|---|---|
| | د زده کوونکو شمیر | د زده کوونکو شمیر |
| د خاص کونړ لیسه | ۳۸ | ۳۸ |
| د ځوکۍ لیسه | ۳۷ | ۳۷ |
| د منګوال منځنی ښونځی | ۲۵ | ۲۵ |

# لومړی ویشنه

## (دریمه برخه)

| | د الف ډله | د ب ډله |
|---|---|---|
| ټولګۍ | د زده کوونکو شمیر | د زده کوونکو شمیر |
| ۷ | ۲۰ | ۲۱ |
| ۸ | ۳۲ | ۴۳ |
| ۹ | ۴۳ | ۲۱ |
| ۱۰ | ۵ | ۸ |

# لومړی ویشنه

## ( څلورمه برخه )

| د زده کوونکو شمیر | د میندو شمیر | په سلو کي ٪ |
|---|---|---|
| ۴ | ۴ | ۲ |
| ۹ | ۳ | ۴، ۵ |
| ۵۱ | ۲ | ۲۹ |
| ۱۲۹ | ۱ | ۶۴، ۵ |

# لومړی ویشنه

## ( پینځمه برخه )

| د پلار دنده ( کسب ) | د زده کوونکو شمیر |
|---|---|
| دهقانان | ۱۱۱ |
| د لږي ځمکي خاوندان | ۲۳ |
| مامورین ( بابو ) | ۱۹ |
| کسبګر | ۱۲ |
| دوکاندار ( سوداګر ) | ۱۲ |
| ښوونکي | ۱۱ |
| پوځي افسران | ۶ |
| کارګر | ۴ |
| ملک | ۱ |
| ملا | ۱ |

په جرمني کې د هغه زده کوونکو چې د هوښيارتيا په تلنه کې ئې برخه اخستلې ده د عمر ، ښوونځيو ، ټولګيو ، ښځو او نرانو ویشنه په دې ډول ده

# دويمه ويشنه

## (لومړۍ برخه)

| | د الف ډله | | د ب ډله | |
|---|---|---|---|---|
| | د زده کوونکو شمير | | د زده کوونکو شمير | |
| عمر | هلکان | جنکۍ | هلکان | جنکۍ |
| ۱۴ | ۱۲ | ۳ | ۲۰ | ۳ |
| ۱۵ | ۱۸ | ۱۳ | ۱۹ | ۱۶ |
| ۱۶ | ۲۳ | ۱۲ | ۲۰ | ۱۱ |
| ۱۷ | ۱۷ | ۲ | ۱۱ | ۰ |

# دویمه ویشنه

## (دویمه برخه)

| | د الف ډله | | د ب ډله | |
|---|---|---|---|---|
| | د زده کوونکو شمیر | | د زده کوونکو شمیر | |
| ښوونځی | هلکان | جنکۍ | هلکان | جنکۍ |
| نوربرت<br>Norbert Gymnasium | ۱۶ | ۰ | ۱۸ | ۰ |
| غټ ګریخن مارک<br>Grosser Griechenmark Hauptschule | ۶ | ۲ | ۸ | ۲ |
| الیزابت فون تورنګن<br>Elisabeth Thuringen Schule | ۰ | ۲۶ | ۰ | ۲۷ |
| برون فلډ<br>Realschule Braunsfeld | ۴۵ | ۰ | ۴۱ | ۰ |
| د ایرن فلډ مسلکي ښوونځی<br>Berufschle Ehrenfeld | ۳ | ۲ | ۳ | ۰ |

# دویمه ویشنه

## ( دریمه برخه )

| | د الف ډله | | د ب ډله | |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| | د زده کوونکو شمیر | | د زده کوونکو شمیر | |
| ټولګی | هلکان | جنکۍ | هلکان | جنکۍ |
| ۱۰ | ۶۰ | ۲۸ | ۶۳ | ۳۰ |
| ۱۲ | ۷ | ۰ | ۴ | ۰ |
| د سوداګرۍ ټولګی | ۳ | ۲ | ۳ | ۰ |

## پایلې ( نتیجې ) :

په پښتونخوا او جرمني کې په منځنۍ توګه ( x ) د حل کړو پوښتنو داسې نتیجې لاس ته راغلي دي

### ۱ ) پښتونخوا

### ۲) جرمني

| | | |
|---|---|---|
| د الف ډله | | د ب ډله |
| په منځنی توګه حل کړي پوښتنې ( $\overline{X}$ ) | | |
| لومړی تلنه | په شکلونو کې د هوښيارتيا تله | د هوښيارتيا اينه |
| | ۳۳، ۶ =( $\overline{X}$ ) | ۱۳، ۹۹ =( $\overline{X}$ ) |
| دويمه تلنه | د هوښيارتيا اينه | په شکلونو کې د هوښيارتيا اينه |
| | ۳۵، ۵۰ =( $\overline{X}$ ) | ۳۶، ۶۹ =( $\overline{X}$ ) |

| | | |
|---|---|---|
| د الف ډله | | د ب ډله |
| په منځنی توګه حل کړي پوښتنې ( $\overline{X}$ ) | | |
| لومړی تلنه | په شکلونو کې د هوښيارتيا تله | د هوښيارتيا اينه |
| | ۲۵، ۰۹ =( $\overline{X}$ ) | ۲۸، ۸۲ =( $\overline{X}$ ) |
| دويمه تلنه | د هوښيارتيا اينه | په شکلونو کې د هوښيارتيا اينه |
| | ۲۸، ۳۸ =( $\overline{X}$ ) | ۲۴، ۷۴ =( $\overline{X}$ ) |

# د پایلو ( نتیجو ) روښانونه :

که پورتنیو پایلو ( نتیجو ) ته ځیر شو نو وبه وینو چې پښتنو زده کوونکو د هوښیارتیا په آینه کې چې د دوئ د لیک دود او د سوچ یا اند دا موخت او عادت سره برابر ده په منځنۍ توګه په شکلونو کې د هوښیارتیا د تلې په پرتله ډیرې پوښتنې سمې حل کړیدي او د جرمنیانو نتیجې بیا برخلاف په شکلونو کې د هوښیارتیا په تله کې ښې دي . ددی پایلو ( نتیجو ) څخه جوتیږي چې سوچ د روزنې او یا ټولنیز کیدلو د لړۍ په ترخ کې په ټاکلې ډډه یا پلو ( طرف ) وده کوي او د ژبې په پرته ( په غیر ) پلو چې د کولتور پورې تړلې خوی لري د پوښتنو په حل کې رول لوبوي د روزنې په ترخ کې پوښتنې سوچ ( اند ، فکر ) داسې وده کړیده چې د ښې اړخ څخه پیل کوي د بیلګې په توګه ژرنده راواخلۍ چې اوبه ئې د څرخ په پرو په ښي اړخ د ناوی څخه ورشړل کیږي. د کورونو د دروازو په جوړولو کې هم ددې سوچ نښې شته دی.

مطلب دا دی څه چې د لودیځ پیداوار ( تولید ) دي هغه د کیڼ اړخ په سوچ ولاړ دي او څه چې زمونږ خپل پښتنې پیداوار دي هغه د ښي اړخ په سوچ ولاړ دي. د څیړنې پایلې دا خبره هم راپه ډاګه کوي چې په شکلونو کې د هوښیارتیا تله د ژبې څخه د ناپییلتوب له کبله له کولتوره ناپییلې نده. د ژبې څخه د هوښیارتیا د ناپییلو تلو د کو لتور په نا پییلتوب انتقاد نه یوازې په دې ټینګار کوي چې د ژبې څخه د هوښیارتیا ازاده تله له کو لتوره څخه ازاده یا ناپییلې تله نده بلکې یو شمیر غوښتنې هم راپه ګوته کوي چې د کو لتوره څخه د هوښیارتیا د ازادی یا ناپییلې تلې د جوړولو سبب ګرزیدلی شي چې غتې ئې دا دي.

۱ ) د تلې د موادو سره بایده دی چې د مختلفو کو لتورونو او هم د یوه کو لتور په دننه کې مختلفې ډلې لکه لوستي یا نا لوستي کسان ، ښځې او نران یو شانته بلد وي.

۲) د پوښتنو د حل لاره بایده دې چې د ښوونځي پورې تړلی خوی ونه لري یانې لوستي او نالوستي کسان ورسره یوشانته بلد وي او د ښوونځي د لیکدود په شان د کوم خاص پلو ( طرف ) سره نښتون و نه لري

۳)د تلې د پوښتنو سم اندې ( منطقي ) اصول بايده دي چې د مختلفو کو لتورونو د کسانو او هم په يوه کو لتوري کړۍ کې د مختلفو ډلو د پاره يو شانته مانا ولري د بيلګې په توګه ددې پوښتنې په شان نه وي چې د اوښ ، پيشو او موټر تر منځ هغه شې بيل کړئ چې شريک څه سره نه لري.

دلته يو تن جرمنی موټر را بيلوي ځکه چې پيشو او اوښ دواړه حيوانات ګڼي او يو تن عرب بيا پيشو رابيلوي ځکه چې موټر او اوښ بار وړي او پيشو ئې وړلې نه شي نو دا پوښتنه د عرب اوجرمن له پاره بيله بيله مانا لري . د کو لتور څخه د هوښيارتيا د ناپيبلې تلې څخه مطلب يوه داسې تله ده چې د مختلفو کو لتورونو په ورته لړونو ولاړ ده چې د کو لتوري اغيزو څخه ازاده نده خو د مختلفو کو لتورونو د مختلفو غښتلو اغيزو څخه ازاده ده. دا تله د مختلفو کو لتورونو د کسانو او يا په يوه کو لتوري ساحه کې د مختلفو ډلو د کسانو د پاره ورته شرطونه لري او هيچه ته د روزنې يا خاصو کو لتوري لړونو په واسطه امتيازنه ورکول کيږي. د کو لتور څخه د هوښيارتيا ناپيبلې تله نه يوازې پوهنيز ارزښت لري بلکې په ورځني ژوند کې په تيره بيا د ډيرو قومونو په هيوادونو کې د روزنې او ژوند په نورو برخو کې ډيره اړتيا ورته ليدل کيږي. د داسې يوی تلې نړيوال ارزښت ورځ په ورځ غځيږي ځکه چې د وګړو تماسونه زيات شويدي او نور هم زياتيږ. خو د کو لتور څخه ناپيبلې تله د کلاسيکي نظريې ( تيوری ) پر بنسټ جوړيدلی نه شي ځکه چې د وګړو (Population) او يا د وګړو د بيلګې پورې پيلتوب د تلو کلاسيکي نظريې خوی جوړوي پخپله ددی نظرې مهمې استلاګانې لکه د تلې د باور وړتوب يا دسموالي او اعتبار د نښتو نونو په تولو يا کچونو (Korrelationskoeffizient = r) ولاړ دی چې د وګړو يا دوګړود بيلګو پورې تړلي دي دا د تلو د کلاسيکي نظريې يوه غټه نيمګړتيا ده دا نيمګړتيا په تيره بيا د مختلفو کو لتورونو په برخه کې ډيره په ډاګه ده ځکه چې په يو داسې تله باندې چې د وګړو يا د وګړو د بيلګې پوری تړلی وي د مختلفو کو لتورونو د کسانو هوښيارتيا تلل کيدلې نه شي.

پخپله په یوه کو لتوري ساحه کې هم د هوښیارتیا د هغه تلو په واسطه چې د کلاسیکې نظریې له مخې جوړې شوې دي سړی د یو څوارلس کلن تن هوښیارتیا د شل کلن تن سره پرتله ( مقایسه ) کولې نه شي ، پرتله یوازی د خپل عمر د کسانو او همځولو سره امکان لري ددې نیمګړتیا د منځه وړلو د پاره په دې وروستنې وخت کې پاملرنه د تلو احتمالي موډلونو (Probabilistische Testmodelle) په تیره بیا د ډنمارکي پوهان رش (Rasch) موډل (Modelle) ته په ساپوهنه کې را اوختې ده کله چې د هوښیارتیا یوه تله ددی موډل (Modelle) په بنسټ جوړه شي نو بیا سړی کولې شي چې د یوه څوارلس کلن هوښیارتیا د شل کلن سره پرتله کړي. زه د خپلې خیړنې [۲۵]. په ترڅ کې په دې بریالی شوی یم چې د رش د موډل په مرسته د هوښیارتیا یوه داسې تله جوړه کړم چې د هوښیارتیا د عنعنوي تلو څخه ښه ده او له کو لتور څخه د ناپییلتوب غوښتنې پوره کوي چې له دې کبله د کو لتور څخه د هوښیارتیا ناپیيلې تله ګڼل کیدلې شي.

خو موږ ورته د دقیق والي له کبله د هوښیارتیا کو لتوري بې پلو تله وایو دا تله به په راتلونکي نږدې وخت کې د پښتنو او نړیوالو په خدمت کې وړاندې کړم او اوس د هوښیارتیا اینې ( هنداره ) ته راځم. د هوښیارتیا اینه د انګلیسي پوهان دانیل (Daniel) په شکلونو کې د هوښیارتیا د تلې د پوښتنو د اینې د تصویر په شان د اړولو څخه منځ ته راغلې ده او په دې توګه د پښتنې ټولنې دلیک دود او د سوچ د عادتونو سره سمه شویده . مونږ ددې تلې لپاره په پښتنې ټولنه کې د لاس ته راغلو موادو له مخې بنسټیې ارزښتونه (Standardwerte) یا نورمونه او د هوښیارتیا توله ( IQ ) برابره کړیده چې د عملي استفادی وړګرزي .

# د هوښيارتيا د ايښې د کاروني لارښوود

د هوښيارتيا اينه د کو لتور څخه د هوښيارتيا ازده تله نده خو په ډيره اندازه سره غونډه هوښيارتيا (General Intelligence) اندازه کوي چې د هوښيارتيا په هر چار کې اغيزه لري د هوښيارتيا دايښې ځخه هم ځانګړې او هم ډله ايزه کار اخستل کيدلې شي او خورا اقتصادي او ګټوره ده ځکه چې په څه کم يوه ګينټه ( ساعت ) کې ټولې چارې سرته رسيدلې شي . د هوښيارتيا اينه د ساپوهانو ، ښوونکو ، د ټولنيزو او پوهنيزو چارو د کار مندانو او روښان اندانو ( روښان فکرو ) له پاره ډيره مهه ده چې خپلې چارې پرې سمبال کړي خو مخکې له دې ځخه چې په دې تله د بل چا هوښيارتيا ځانګړې يا ډله ايزه وتلې ښه دا ده چې خپله هوښيارتيا پخپله وتلې او دا په دې توګه کولې شي چې لومړې د ځوابونو د پاڼې په شان پاڼه چې ددې کتاب په پای کې ده جوړه کړي او يا ئې کاپي کړي او بيا د هوښيارتيا د اينې بيلګو ته پام وکړي چې د هوښيارتيا په‌آينه کې د تلې د پوښتنو ځخه د مخه انځور شويدي.

**لومړی بيلګه :** د پوښتنې په انګړ کې ګورو چې په پاس قطار کې درې توري دي: الف ، ب ، او ج ، همدغه شان په دوهم قطار کې هم دا درې توري دي: ب ، ج ، او الف په دريم قطار کې ددې تورو څخه دوه توري « ج » او « دالف » شته دي اود دريم توري ځای خالي دې دا توري « ب » دې ځکه چې په هر قطار کې همدا درې توري دي نو سم ځواب ( ب ) دي ددې پوښتنې د شپږو ځوابونو په قطار کې ګورو چې د ( ب ) په سر دوه ليکل شوي دي دا دوه ځواب په پاڼه کې د بيلګو د پوښتنو د لومړئ پوښتنې د سم ځواب په کوټه کې ليکل کيږي په همدې ډول د نورو بيلګو سم ځوابونه ليکل کيږي سرې د لومړنۍ بيلګې پوښتنه په دې ډول هم حل کولې شي چې د پوښتنې ټول انګړ ته ځير شي نو وبه ويني چې درې ځله په کې د « الف » توری درې ځله پکې د « ج » توری او دوه ځله پکې د « ب » توری راغلي او د يوه توري ځای خالي دي دا توری بايده دی چې « ب» وي چې « ب» هم درې ځله شي نو سم ځواب « ب» دی.

مطلب دا دې چې دا تورې د يوه او يا ډيرو قاعدو او اصولونو په بنسټ ليکل شوې دي دا چې د کومې قاعدې يا اصول په واسطه سرې سم ځواب ته راځي د هر چا خپل کار دې خو سم ځواب مهم دې او د پوښتنو د شپږو ځوابونو په قطار کې يو ځواب خامخا سم دی.

**دويمه بېلګه :** دويمه بېلګه د لومړۍ بيلګې په شان ده په هر قطار کې يوه کرښۍ ګردئ يوه توره او يوه سپينه ګردۍ ده په دريم قطار کې يوه سپينه او يوه کرښۍ ګردۍ شته دی او د توري ګردۍ ځای خالي دې توره ګردۍ سم ځواب دې ددې بيلګې د ځوابونو په قطار کې ګورو چې د توري ګردۍ په سر ځلور ليکل شويدي ځلور د ځوابونو په پاڼه کې د دوهمې بيلګې په کوټه کې ليکو.

**دريمه بېلګه :** دريمه بېلګه هم د پاسنې بيلګې په شان ده مثبت نښه ( + ) يانې ځلور سم ځواب دی.

**ځلورمه بېلګه :** ځلورمه بيلګه اسانه جمع ده که په هر قطار يا ستون کې دوه لومړنۍ شميره ( عددونه ) سره جمع شي دريم ورکوي چې سم ځواب ئې دوه دې چې د نهه په سر ليکل شويدی.

**پنځمه بېلګه :** پنځمه بيلګه هم ساده جمع ده خو دا ځل په شکلونو کې ده که په هر قطار يا ستون کې لومړني دو شکلونو جمع شي دريم ورکوي چې سم ځواب ئې شپږ دی.

**شپږمه بېلګه :** په دې بيلګه کې دوه اصولونه پراته دي يو دا دی چې که د ښي ستون د لومړئ ګردی غشی ته پام وکړو نو دا غشي په هر ورپسې قطار يا ستون کې د ګردی يو پر ځلورمه برخه ښي اړخ ته تاويږي بل اصول دا دي چې د ګردۍ د غشي په لومړي او اخرني ( دريم ) قطار او يا ستون کې يو د بل په مخالف اړخ ولاړ دی چې سم ځواب ئې پنځه دی.

د هوښيارتيا د اينې د پوښتنو د حل لارې د بيلګو د پوښتنو په شان دي خو مخکې له دې څخه چې د هوښيارتيا د اينې د پوښتنو په حلولو پيل وشي ددې خبرې يادول ضروري دي چې کله سړی په يوه پوښتنه کې بند پاتې شي پکار نه ده چې ډير وخت پرې ولګوي د بلې پوښتنې په حلولو پيل ښه دې او د ځوابونو په پاڼه کې ددې پوښتنې کوټه خالي پاتې کيږي. کله چې د هوښيارتيا د اينې پوښتنې حل شي . نو بيا د سمو ځوابونو د پاڼې او يا د سمو ځوابونو د کلي په مرستې سره د سمو ځوابونو مجموعه په نښه او شميرل کيږي ،چې د سمو ځوابونو مجموعې اوم ارزښت ( Rohwert = RW ) په نامه ياديږي ، چې د بنسټي ارزښتونو ( Standardwert) يا د نورمونو د پاڼې په مرسته په بنسټي ارزښتونو اړول کيږي . او بنسټي ارزښتونه بيا د هوښيارتيا د تولې د پاڼې په مرستې سره د هوښيارتيا په توله ( IQ ) بدليږي او په دې توګه د سړی د هوښيارتيا د اندازې پته لګيږي چې د هوښيارتيا د ټولګي په مرسته سره مانا او روښانه کيږي. د بيلګې په توګه که يو شپاړس کلن تن د هوښيارتيا په اينه کې ۳۵ پوښتنې سمې حل کړې وي نو اوم ارزښت ئې (Rohwert = RW ) ۳۵ دی

**اوم ارزښت ( RW ) = ۳۵**

د بنسټي ارزښتونو (Standardwert = SW) يا نورمونو په پاڼه کې ګورو چې دا ۳۵ اوم ارزښت د ۱۱۴ بنسټي ارزښت سره سمون خوري.

**بنسټي ارزښت** ( SW ) = ۱۱۴

اوس راځو د هوښيارتيا تولې ( IQ ) ته ۱۱۴ بنسټي ارزښت د هوښيارتيا د تولې ( IQ ) د ۱۲۱ سره سمون خوري.

**د هوښيارتيا توله ( IQ ) = ۱۲۱**

په پای کې د هوښيارتيا ټولګي ( Class ) ته راځو ګورو چې د هوښيارتيا دا توله ( IQ ) چې ۱۲۱ ده د ډير زيات هوښيارتيا په ټولګي کې راځي.

د هوښيارتيا ټولګې ( Class ) = ډيرزيات هوښيار

دا پايله ( نتيجه ) په لاند ډول راغونډوو

اوم ارزښت ( RW ) = ۳۵

بنستيي ارزښت ( SW ) = ۱۱۴

د هوښيارتيا توله ( IQ ) = ۱۲۱

د هوښيارتيا ټولګې ( Class ) = ډيرزيات هوښيار

# د هوښيار تيا آينه

## لومړی بېلګه

| | | |
|---|---|---|
| ج | ب | ا |
| ا | ج | ب |
| | ا | ج |

١ ا

٢ ب

٣ ج

٤ اب

٥ اج

٦ ابج

# دویمه بېلګه





# دریمه بپلگه



# څلورمه بېلګه

| | | |
|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ |
| ٢ | ٤ | ٦ |
| ٣ | ٦ | |

| | | |
|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ |
| ٧ | ٩ | ٨ |
| ٤ | ٥ | ٦ |
| ١١ | ١٢ | ٥ |

# پنځمه بېلګه





## شپږمه بېلګه





# پوښتنې

١





٢





٣



٤



٥





٦





٧





٨



٩





١٠





١١





١٢





١٣





١٤





١٥





١٦





١٧



١٨



١٩





٢٠





٢١





٢٢





٢٣



٢٤





٢٥



٢٦





٢٧





٢٨





٢٩



١



٢



٣



٤



٥



٦



٣٠



١



٢



٣



٤



٥



٦



٣١



٣٢





٣٣





٣٤



٣٥



٣٦





٣٧





٣٨





٣٩





٤٠





٤١





٤٢





٤٣





٤٤





٤٥



# د هوښیارتیا آینه ( هنداره )

( د ځوابونو پاڼه )

| | |
|---|---|
| نوم | د پلار نوم |
| د کورنۍ نوم یا تخلص | کسب ( وظیفه ) |
| عمر ( په کلونو ) | نېټه |

| پوښتني | ځواب | پوښتني | ځواب | پوښتني | ځواب |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | ۱۶ | | ۳۱ | |
| ۲ | | ۱۷ | | ۳۲ | |
| ۳ | | ۱۸ | | ۳۳ | |
| ۴ | | ۱۹ | | ۳۴ | |
| ۵ | | ۲۰ | | ۳۵ | |
| ۶ | | ۲۱ | | ۳۶ | |
| ۷ | | ۲۲ | | ۳۷ | |
| ۸ | | ۲۳ | | ۳۸ | |
| ۹ | | ۲۴ | | ۳۹ | |
| ۱۰ | | ۲۵ | | ۴۰ | |
| ۱۱ | | ۲۶ | | ۴۱ | |
| ۱۲ | | ۲۷ | | ۴۲ | |
| ۱۳ | | ۲۸ | | ۴۳ | |
| ۱۴ | | ۲۹ | | ۴۴ | |
| ۱۵ | | ۳۰ | | ۴۵ | |
| | | | | | |

| بيلگي | |
|---|---|
| پوښتني | ځواب |
| ۱ | |
| ۲ | |
| ۳ | |
| ۴ | |
| ۵ | |
| ۶ | |

## د هوښيارتيا آينه ( هنداره )

## دسمو ځوابونو پاڼه

| بيلگي | |
|---|---|
| پوبنتني | خواب |
| ١ | ٢ |
| ٢ | ۴ |
| ٣ | ۴ |
| ۴ | ٢ |
| ۵ | ۶ |
| ۶ | ۵ |

| پوبنتني | سم خواب | پوبنتني | سم خواب | پوبنتني | سم خواب |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | | ١۶ | | ٣١ | |
| ٢ | | ١٧ | | ٣٢ | |
| ٣ | | ١٨ | | ٣٣ | |
| ۴ | | ١٩ | | ٣۴ | |
| ۵ | | ٢٠ | | ٣۵ | |
| ۶ | | ٢١ | | ٣۶ | |
| ٧ | | ٢٢ | | ٣٧ | |
| ٨ | | ٢٣ | | ٣٨ | |
| ٩ | | ٢۴ | | ٣٩ | |
| ١٠ | | ٢۵ | | ۴٠ | |
| ١١ | | ٢۶ | | ۴١ | |
| ١٢ | | ٢٧ | | ۴٢ | |
| ١٣ | | ٢٨ | | ۴٣ | |
| ١۴ | | ٢٩ | | ۴۴ | |
| ١۵ | | ٣٠ | | ۴۵ | |

## د هوښيارتيا آينه ( هنداره )

# د تلې د پوښتنو د سمو ځوابونو د کيلي بېلګه

| سم ځواب | | سم ځواب | | سم ځواب | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | ۱۶ | | ۳۱ | |
| ۲ | | ۱۷ | | ۳۲ | |
| ۳ | | ۱۸ | | ۳۳ | |
| ۴ | | ۱۹ | | ۳۴ | |
| ۵ | | ۲۰ | | ۳۵ | |
| ۶ | | ۲۱ | | ۳۶ | |
| ۷ | | ۲۲ | | ۳۷ | |
| ۸ | | ۲۳ | | ۳۸ | |
| ۹ | | ۲۴ | | ۳۹ | |
| ۱۰ | | ۲۵ | | ۴۰ | |
| ۱۱ | | ۲۶ | | ۴۱ | |
| ۱۲ | | ۲۷ | | ۴۲ | |
| ۱۳ | | ۲۸ | | ۴۳ | |
| ۱۴ | | ۲۹ | | ۴۴ | |
| ۱۵ | | ۳۰ | | ۴۵ | |

| بیلګي | |
|---|---|
| پوښتني | ځواب |
| ۱ | ۲ |
| ۲ | ۴ |
| ۳ | ۴ |
| ۴ | ۲ |
| ۵ | ۶ |
| ۶ | ۵ |

کله چې سړی وخت سپمول غواړي او لږ وخت کې د ځوابونو د ډیرو پاڼو سم ځوابونه ځان ته معلومول غواړي ، نو ښه دا ده ، چې د ځوابونو د پاڼــې په اندازه د پیړ کاغد یا د قیا له کاغذ څخه په پورتني ډول یوه کیلي جوړه کړي چې کربښې کربښې برخې په کې سوري کړي ، او په دې توګه ځوابونه د کیلي د سم ځوابونوسره پرتله کړي.

## د هوښیارتیا آینه

## د بستهي ارزښتونو یا نورمونو پاڼه

| اومه ارزښنه | بنسټي ارزښتونه(Standarwert=SW) | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | عمر | | | | |
| د سمو ځوابونو شمیر | ۱۴ | ۱۵ | ۱۶ | ۱۷ | غټان |
| ۱ | - | - | - | - | - |
| ۲ | - | - | - | - | - |
| ۳ | ۶۱ | - | - | - | - |
| ۴ | ۶۳ | ۶۱ | - | - | - |
| ۵ | ۶۵ | ۶۳ | ۶۱ | - | - |
| ۶ | ۶۶ | ۶۵ | ۶۳ | ۶۱ | - |
| ۷ | ۶۸ | ۶۶ | ۶۵ | ۶۳ | ۶۱ |
| ۸ | ۷۰ | ۶۸ | ۶۶ | ۶۵ | ۶۳ |
| ۹ | ۷۲ | ۷۰ | ۶۸ | ۶۶ | ۶۵ |
| ۱۰ | ۷۴ | ۷۲ | ۷۰ | ۶۸ | ۶۶ |
| ۱۱ | ۷۵ | ۷۴ | ۷۲ | ۷۰ | ۶۸ |
| ۱۲ | ۷۷ | ۷۵ | ۷۴ | ۷۲ | ۷۰ |

| اومه ارزښنه | بنسټيي ارزښتونه(Standarwert=SW) | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | عمر | | | | |
| د سمو ځوابونو شمير | ۱۴ | ۱۵ | ۱۶ | ۱۷ | غټان |
| ۱۳ | ۷۹ | ۷۷ | ۷۵ | ۷۴ | ۷۲ |
| ۱۴ | ۸۱ | ۷۹ | ۷۷ | ۷۵ | ۷۴ |
| ۱۵ | ۸۲ | ۸۱ | ۷۹ | ۷۷ | ۷۵ |
| ۱۶ | ۸۴ | ۸۲ | ۸۱ | ۷۹ | ۷۷ |
| ۱۷ | ۸۶ | ۸۴ | ۸۲ | ۸۱ | ۷۹ |
| ۱۸ | ۸۸ | ۸۶ | ۸۴ | ۸۲ | ۸۱ |
| ۱۹ | ۸۹ | ۸۸ | ۸۶ | ۸۴ | ۸۲ |
| ۲۰ | ۹۱ | ۸۹ | ۸۸ | ۸۶ | ۸۴ |
| ۲۱ | ۹۳ | ۹۱ | ۸۹ | ۸۸ | ۸۶ |
| ۲۲ | ۹۵ | ۹۳ | ۹۱ | ۸۹ | ۸۸ |
| ۲۳ | ۹۷ | ۹۵ | ۹۳ | ۹۱ | ۸۹ |

| اومه ارزښنه<br>د سمو ځوابونو شمیر | بنستي ارزښتونه(Standarwert=SW) | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | عمر | | | | |
| | ۱۴ | ۱۵ | ۱۶ | ۱۷ | غټان |
| ۲۴ | ۹۸ | ۹۷ | ۹۵ | ۹۳ | ۹۱ |
| ۲۵ | ۱۰۰ | ۹۸ | ۹۷ | ۹۵ | ۹۳ |
| ۲۶ | ۱۰۲ | ۱۰۰ | ۹۸ | ۹۷ | ۹۵ |
| ۲۷ | ۱۰۳ | ۱۰۲ | ۱۰۰ | ۹۸ | ۹۷ |
| ۲۸ | ۱۰۵ | ۱۰۳ | ۱۰۲ | ۱۰۰ | ۹۸ |
| ۲۹ | ۱۰۷ | ۱۰۵ | ۱۰۳ | ۱۰۲ | ۱۰۰ |
| ۳۰ | ۱۰۹ | ۱۰۷ | ۱۰۵ | ۱۰۳ | ۱۰۲ |
| ۳۱ | ۱۱۱ | ۱۰۹ | ۱۰۷ | ۱۰۵ | ۱۰۳ |
| ۳۲ | ۱۱۲ | ۱۱۱ | ۱۰۹ | ۱۰۷ | ۱۰۵ |
| ۳۳ | ۱۱۴ | ۱۱۲ | ۱۱۱ | ۱۰۹ | ۱۰۷ |
| ۳۴ | ۱۱۶ | ۱۱۴ | ۱۱۲ | ۱۱۱ | ۱۰۹ |

| اومه ارزښنه<br>د سمو ځوابونو شمير | بنستيي ارزښتونه(Standarwert=SW) | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | عمر | | | | |
| | ۱۴ | ۱۵ | ۱۶ | ۱۷ | غټان |
| ۳۵ | ۱۱۸ | ۱۱۶ | ۱۱۴ | ۱۱۲ | ۱۱۱ |
| ۳۶ | ۱۱۹ | ۱۱۸ | ۱۱۶ | ۱۱۴ | ۱۱۲ |
| ۳۷ | ۱۲۱ | ۱۱۹ | ۱۱۸ | ۱۱۶ | ۱۱۴ |
| ۳۸ | ۱۲۳ | ۱۲۱ | ۱۱۹ | ۱۱۸ | ۱۱۶ |
| ۳۹ | ۱۲۵ | ۱۲۳ | ۱۲۱ | ۱۱۹ | ۱۱۸ |
| ۴۰ | ۱۲۶ | ۱۲۵ | ۱۲۳ | ۱۲۱ | ۱۱۹ |
| ۴۱ | ۱۲۸ | ۱۲۶ | ۱۲۵ | ۱۲۳ | ۸۲۱۲۱ |
| ۴۲ | ۱۳۰ | ۱۲۸ | ۱۲۶ | ۱۲۵ | ۱۲۳ |
| ۴۳ | ۱۳۲ | ۱۳۰ | ۱۲۸ | ۱۲۶ | ۱۲۵ |
| ۴۴ | ۱۳۴ | ۱۳۲ | ۱۳۰ | ۱۲۸ | ۱۲۶ |
| ۴۵ | ۱۳۵ | ۱۳۴ | ۱۳۲ | ۱۳۰ | ۱۲۸ |

## د هوښيارتيا آينه

## د هوښيارتيا د تولې ( IQ ) پانه

| بنستي ارزښت(SW) | د هوښیارتي توله(IQ) | | بنستي ارزښت(SW) | د هوښیارتي توله(IQ) |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۰ | ۱۴۵ | | ۹۸ | ۹۷ |
| ۱۲۸ | ۱۴۲ | | ۹۶ | ۹۴ |
| ۱۲۶ | ۱۳۹ | | ۹۴ | ۹۱ |
| ۱۲۴ | ۱۳۶ | | ۹۲ | ۸۸ |
| ۱۲۲ | ۱۳۳ | | ۹۰ | ۸۵ |
| ۱۲۰ | ۱۲۰ | | ۸۸ | ۸۲ |
| ۱۲۷ | ۱۱۸ | | ۸۶ | ۷۹ |
| ۱۱۶ | ۱۲۴ | | ۷۴ | ۷۶ |
| ۱۱۲ | ۱۲۱ | | ۸۲ | ۷۳ |
| ۱۱۰ | ۱۱۸ | | ۸۰ | ۷۰ |
| ۱۱۰ | ۱۱۵ | | ۷۸ | ۶۷ |
| ۱۰۸ | ۱۱۲ | | ۸۶ | ۶۴ |
| ۱۰۶ | ۱۰۹ | | ۷۴ | ۶۱ |
| ۱۰۴ | ۱۰۶ | | ۷۲ | ۵۸ |
| ۱۰۲ | ۱۰۳ | | ۷۰ | ۵۵ |
| ۱۰۰ | ۱۰۰ | | ۶۸ | ۵۲ |

# د هوښيارتيا آينه

## د هوښياتيا تولګی

د تيرمان (Terman) په حواله د ويکسلر (Wechsler) د ليک له مخې

| د هوښيارتيا توله (IQ) | مانا |
|---|---|
| د ۷۰ څخه کم | ډير کم عقل |
| ۷۰ ــ ۸۰ | کم عقل |
| ۸۱ ــ ۹۰ | لږ هوښيار |
| ۹۱ ــ ۱۱۰ | عدي يا منځني هوښيار |
| ۱۱۱ ــ ۱۲۰ | ډير هوښيار |
| ۱۲۱ ــ ۱۴۰ | ډير زيات هوښيار |
| ۱۴۰ نه زيات | تقريبآ ژني يا نابغه |

# خوښنه

د ځوان سنګر ځخه چې د هوښيارتيا د تلې خاکه ئې په کمپوټر ليکلې او د پښتو دقامي ادبي جرګې د پياوړو ليکوالانو عزيز سرشار او عبدالنصير نصير ځخه ډيره مننه چې د کتاب په سمبالښت کې ئې مرسته سرته رسولې ده.

د هوښيارتيا د تلې د ليکلو په وخت کې زما هڅه او اند دا و ، چې د يوې خوا ئې ژبه ساده او اسانه وي چې نه يوازې مسلګي کسان بلکې نور لوستي کسان ترې هم ګټه واخلي او له بلې خوا ئې پوهنيز جوهر او مفهوم له منځه لاړ نه شي په دې ښتون کې د منلو ليکوالانو ، زرين انځور ، ميرزا محمد کونړی ، شمير پوه ډوکتور ماخان شينواري ، ايدوکيټ هدايت الله خان بنګښ او ژب پوه پښوري نه ډيره مننه کوم چې د هوښيارتيا د تلې د خاکې لوستلو ته ئې وخت ورکړی او ماته ئې داډ راکړی چې په متن ئې لوستي کسان پوهيدلای شي.

په پای کې د ختيځ د بيا رغوني د اداري ( کور ) له مشر ډاکتر محمد فريد بزګر ، د ښتونخوا د پوهني د ديري له مشر نامتو ليکوال او شاعر لايق زاده لايق ، عبدالبصير بيدار ، ننګيالي ميرداد خيل ځخه ډيره خوښنه چې د کتاب په چاپ کې ئې زيار ويستلی دی

ډوکتور کبير ستوری

جرمني : 2000/05/07

# اخستونځی

(1)

Mc Doagall: Aufbaukräfte der Seele, Stuttgart 1947

(2)

Wenzel . A : Theorie der Begabung, Leipzig 1934

(3)

Merz . F. : Einzelprobleme der Differentiellen Psychologie Vorlesungskriptum , Universitöt Marburg , 1966

(4)

Wechseler, David: Die Messung der IntelligenzErwachsener, verl. Hans Huber Bern Stuttgart , Wien 1964

(5)

Grimm Rudolf : Intelligenz, Zeitfunk, DW Seite 3, 16.04.1998

(6)

Spearmann nach R. Meili : Lehrbuch der psychologichen Diagnostik , Bern ; Stuttgart Hans Huber verl. 1965

(7)

Guilford , J.P.: Personlichkeit Weiheim 1964

(8)

Schwebecke , A. Lück , H. E Jandron , E Jose, S. und Calif : Probleme und Erfahrung der Adaption fremdprachiger Tests in psychologische Beitäge, Bd 15 , 1973

(9)

Fischer, G. H; Scheiblechner, H .: Algorirhmen und Programme für das probabilistische Testmodelle von Rasch in : psychologische Beiträge Bd , 12, 1970

(10)

Spada , H. F . : Intelligenztheorie und Intelligenzmessung in psychologische Beiträge Bd, 12. 1970

(11)

Amthauer, R . : Intelligenz –Struktur – Test Handanwesung für die Durchführung und Auswertung Gottingen , Hogrefe 1955 , 2. Auflage

(12)

Newman , H.H i freeman, F. N.i Holzinger, j: Astudy of heredity and environment Uiversity of Chicago Press 1937

(13)

Merz, F. , Stelzl, I, : Einführung in die Erbpsychologie , Kohlhammer 1977

(14)

Rohracher, H . : Einfürung in die Psychologie verl. Urban und Schwarzenberg, Wien Innsbruck 1965

(15)

Merz, F, und Stelzl, i: Modelvorstellungen über die Entwicklung der Intelligenz im Kindheit und Jugend Bericht aus dem Institut für Psychologie der Philippsuniversität Nr 33; November 1972

(16)

Groffman , K.j: D, Entwicklung der Intelligenzmessung im Handbuch der Psychologie Bd 6, Göttingen 1971

(17)

Drenth, P.J.D.: Der psychologische Test Barth München 1969

(18)

Raven, JH.G. Guid to the standard progressive Matrices London 1960

(19)

Raven , J. G.: Advanced progressive Matrice London 1971

(20)

Daniel, J.G.: Figur Reasoning Test Testzentrale , 7 Stuttgart

(21)

Weiss, R. : Grundintelligenztest Braunschweig, Westerman 1971

(22)

Merz, F. : Der Einfluß des verbalisieren auf die Leistung bei Intelligenzaufgabe Bericht Nr. 14, aus dem Institut für Psychologie , Marburg 1968

(23)

Drenth , P.J.D. and Van der Flier , H.: Cutural differences and Comparbility of Testscires in international Review of Applie psychology , Liverpool, University press 1976

(24)

Stori , Kabir: Moglichkeit einer Methode zur Entwicklung eines Kulturfreien Intelligenztestes am Beispiel einer Untersuchung an Hand des Figure – Reasoning – Tset ( FRT ) bei Jugendlichen in Afghani .: an und Bundesrepubliik Deutschland , Empirische Jahresarbeit am Institut für Psychologie , Unversität Frankfurt

# په پېښور کې د پښتونخوا د پوهنې دېره

په پښتنه ټولنه کې د ادب او کو لتور د پرمختګ لپاره د کلونو راهيسې هلې ځلې روانې دي ، دا په دې وجه چې د ژبې له پرمختګ نه په غير د يو قام د وجود تکميل نه شي کيدی. په لوی افغانستان کې دغه احساس او دغه فکر پښتو ادب ته داسې نوی رنګ او نوي انداز ورکړ ، چې د پښتو ژبې لمن ئې د « پردو ژبو » له اغېزې نه تر ډيره حده پاکه کړه په بره پښتونخوا کې چې کله د خدايي خدمتګارانو تحريک د پښتون قام خدمت ته اوړه ورکړه ، نو ددغه ټول خدمت بنياد په « ادب » ولاړ ؤ که له يو خوا دې تحريک پښتو ليک ته نوې لارې وښودلې ، نو بل ځوا بيا دغه نوو لارو په پښتون قام کې د سياسي پوهې شعور راژوندی کړ ، د تاريخ ددغه فطري يون په تسلسل کې په کال ۱۹۹۸ کې په پېښور کې د پښتوانخو د پوهنې د يرې بنياد کېښودی شو ، چې د جوړښت اډانه ئې د نوموړي قام پرست شاعر او ليکوال ښاغلي ډاکتر کبير ستوری په سوچ ولاړه ده .

د ديرې بنيادي غرض په پښتون قام کې د پوهنې او زده کړې احساس رابيدارول دي ، ځکه چې په نن‌ني دور کې پښتون قام ته له هر څه نه زيات د پوهې او زده کړې ضرورت دی.

د پښتونخوا د پوهنې دېره هڅه کوي ، چې د هر ډول سياسي نطر نه پرته د پښتو ژبې د ادب ، کو لتور او فرهنګ د پر مختګ لپاره کار وکړي او په دې توګه په ولس کې د ځان پيژندنې روحيه راژوندۍ کړي او د لر او بر ليکوالو تر منځ د هما هنګۍ او نظر يوالي ته وده ورکړي

د پښتونخوا د پوهنې دېره دوه څانګې لري

۱ ) فرهنګي او کو لتوري څانګه : دا څانګه د فرهنګي غونډو او مشاعرو د جوړولو لارې چارې سنجوي دغه راز د موسيقۍ اولسي کو لتوري پروګرامونه برابر وي ، چې پښتنو هنرمندانو ( فنکارانو ) ته د خپل فن د ښکارونې موقع ورکولی شي . هنري څانګه همداشان د پښتونخوا د مختلفو سيمو تعارفي فلمونه هم جوړوي او خوروي ئې.

۲ ) مطبوعاتي څانګه : دغه څانګه د پښتنو لیکوالانو او شاعرانو سره اړیکې ټینګوي او چې کوم پښتانه لیکوالان خپلې لیکنې ( نثري او شعري ) مجموعې نه شي چاپ کولای او یا ورته په دی لړ کې کومې ستونزې راپیدا کیږي ، نو دیره د داسي لیکوالانو مرسته او لارښوونه کوي .

دیره د کتابونو د چاپ نه علاوه خپل تنقیدي او ادبي اجلاسونه هم کوي او تر اوسه په ګڼو مهمو موضوعاتو اجلاسونه شوي دي د دیرې د غړو شمیر زیات نه دی ، دا په دې اساس چې تر څو پورې دېرې خپل فعالیت سیوا کړی نه وي ، تر هغې پورې دا فکر لري چې د شمیر نه زیات په « کار » باندې زور واچوي دېره دا هیله لري چې کله هم دغه فکر خور شي نو ورسره به د ملګرو د ملګرتیا دا دیره هم پراخه او خوره شي .

د پښتونخوا د دېرې له خو چاپ شوي اثار په دې ډول دی.

۱ . ګل پاڼه ، شعرې مجموعه ، شاعر مباز څاپی

۲ . د قلم توره ، شعرې مجموعه،شاعر ډاکتر کبیر ستوری

۳ . ژوندی وزر ، شعرې مجموعه،شاعر ډاکتر دیدار یوسفزی

۴ . ماته آینه ، افسانې ، لیکوال لایق زاده لایق

۵ . مرغزار ، شعرې مجموعه،شاعر ، حنیف قیس

۶. لعلونه ، شعرې مجموعه،شاعر و حنیف قیس

۷ . ډالۍ و د حمد بابا او علي خان بابا منتخب کلامونه ، ټولونکی . لایق زاده لایق

۸ .یادونه ، شعرې مجموعه،شاعر ، ابراهیم بېدارروال

۹ . ژوند او جانان ، شعرې مجموعه،شاعر و سعید الله خادم

۱۰ . د هوښیارتیا تله ، همدا کتاب

۱۱ . راښکلي غشي ، شعرې مجموعه،شاعر ، ډاکتر دیدار یوسفزی

د پښتونخوا پوهنې دطره د پښتو د روښانه سباوون د نور روښانه کولو لپاره ټولې هلې ځلې په کار راولي او په دې فکر باور لري چې :

د وختونو له بدلون نه داسې ښکاري

د پښتو د باغ ګلونه به سمسور شي

لايق زاده لايق

د پښتونخوا د پوهنې د دېرې مشر

جون ۲۰۰۰



کبیر ستوری د ساینس پوهنو دکتور (Dr rer. Nat) دپلوم سـاپوه (Diplom Psychology) په هند پښتون په تبـر میرداد خیل چې د پښتنو د یوسـفزو د پرکنې پورې اړه لري. ستوری دلعل محمد خان زوی او د بري پښتونخوا د کونړ د تنر په کلي کې په ۱۷/۱/۱۳۲۱ هل کال (۰۶/۰۴/۱۹۴۲ ع) زیږیدلی دی.

ده خپله لومړنی زده کړه د خاص کونړ په لومړني ښوونځي او په کابل کې د رحمان بابا په لیسه کې او خپله لوړه زده کړه د جرمني د فرانکفورت، کولن او د ماربورک په پوهنتونونو کې د ساپوهنې (Psychology) په څانګه کې، چې فلسفه (Philosophy) سیاسي پوهنه (Pol.Science) او ټولنپوهنه (Socialogy) ورسره مل وه، سرته رسولې ده.

ستوری د نړۍ د ساپوهانو په ډله کې ولاړ دی او د ۱۹۷۵ ع کال راهیسې د کړنې د ساپوهنې د نړیوالې ټولنې (International Association of Applied Psychology) غړی دی. ستوری د پښتون سوشل دیموکراتیک پارټۍ (PSDP) مشر او ددې پارټۍ د بنسټ ایښودونکو مخکښانو څخه دی.

او د شاعرۍ په نړۍ کې تر ټولو زیات د پښتو د ادب د پلار اجمل خټک نه یې الهام اخیستلی دی. د پښتنو د یووالي، خپلواکۍ او سوکالۍ د پاره د دغه د باچا خان نظریو ژوند وربښلی دی.